
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

# د خاطر دیوان

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

مصري خان خاطرؔ اپریدے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



# ترون

د خیبر درې
د شاعرانه غېږې
په
نوم

د خاطر رنګین غزل ته حېرانېږم
په دې خړ خیبر کښې څۀ دې پې لۀ خاورو



# فهرست


| شمېر | | مخ |
|---|---|---|
| | (ا) | |
| ۱ : | چې عاشق د معشوقې په لور کاتۀ کا | ۱۴ |
| ۲ : | چې اشنا ئې ستمګر شي نو به څۀ کا | ۱۵ |
| ۳ : | نرېدۀ چې کړې هر وخت د ددونه اشنا | ۱۶ |
| | (د) | |
| ۴ : | کافي برقي دي دیدار د محمدؐ | ۱۷ |
| | (ل) | |
| ۵ : | خیر نو که دړته ما وکل تا راوکل | ۱۸ |
| | (م) | |
| ۶ : | دا ستا د حسن تماشې والخستم | ۱۹ |
| ۷ : | دوایه شم تا نه قربان څۀ وکړم | ۲۰ |
| ۸ : | باغ د مینې دې د خیال پکښې غنچې کړم | ۲۱ |


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


مخ


۹ : نهٔ ننګه د مرم په شان دیدار ته اربهٔ کېږم ―――― ۲۲
۱۰ : شرمسره چې نه یم په څواڼه پسې نهیږم ―――― ۲۳
۱۱ : ستا په الفت کښې به هر بنیار نهٔ شم ―――― ۲۴
۱۲ : واخلمه تا او کهٔ دنیا واخلم ―――― ۲۵
۱۳ : خوشحالي ستا شوه زهٔ ئې نهٔ اخلم ―――― ۲۶
۱۴ : ننګه کلي چې په ازغو کښې وینم ―――― ۲۷
۱۵ : په دې دنیا کښې هسې شپې تېرووم ―――― ۲۸
۱۶ : اشنا کهٔ تا ته په کتو پره شوم ―――― ۲۹
۱۷ : قسمته داسې دې ویده کړم چې بیدار نهٔ شوم ―――― ۳۰
۱۸ : نور په نیږهٔ ئې نهٔ ځانګیږی چې ځهٔ وایم ―――― ۳۱
۱۹ : ته به ګرځې هسې بنګلے نهٔ به مړیم ―――― ۳۲
۲۰ : جنګلی مخ ته دې د مرم په شان اربهٔ یم ―――― ۳۳
۲۱ : رنګ ته چې ګرږه سرے سکرو نهٔ یم ―――― ۳۴
۲۲ : سپرلیه ! نهٔ دې په غنچو کښې نهٔ یم ―――― ۳۵
۲۳ : یاره ! ستا مینې په اور سېځلے یم ―――― ۳۶
۲۴ : ستا د منزل په منزلونو کښې یم ―――― ۳۷


( و )


۲۵ : ژوندی کله نه ما پوهٔ دی چې لهٔ ځانه ورو ―――― ۳۸
۲۶ : خوږ به زهٔ ئې د برمه به سرو سترګو ―――― ۳۹
۲۷ : نن به څهٔ پرسې نما په تورو سترګو ―――― ۴۰




مخ


۲۸ : بیا دې سپین نهٔ کړم په هغو سترګو ―――― ۴۱
۲۹ : ما د وصال په شپه کښې تورله شپه سحر لیدلی ―――― ۴۲
۳۰ : شوق چې ستا لهٔ دیده پیغو بیغو سره لاړلی ―――― ۴۳
۳۱ : یاد شو مه د عشق ډګې ننګونو په سر ونی ―――― ۴۴
۳۲ : غو په سره پټ درایه په نیږهٔ ذره ذره یی ―――― ۴۵
۳۲ب : ځکه چې نن په سرو نېږه د نهی کړو ―――― ۴۶
۳۲ج : منډه شوله ویره چې انکار دې وکړو ―――― ۴۷


(ه)


۳۳ : خبر نهٔ وم دې ثواب او دې عذاب ته ―――― ۴۸
۳۴ : نهٔ یمه حیران د دنیا سترګو ته ―――― ۴۹
۳۵ : ته چې رقیب ته اشارې کړې داد مل نخښنه ده ―――― ۵۰
۳۶ : خواږهٔ تراخهٔ شو د خزو هسې نامه پاتې ده ―――― ۵۱
۳۷ : بیګا ستا په انتظار چې هسې ستړې تورله شپه کړه ―――― ۵۲
۳۸ : لږ د نقاب لرې کړه دل زده کړه ―――― ۵۳
۳۹ : ما په شړګیو تا په خبرو تېره کړه ―――― ۵۴
۴۰ : رقیبه په خبرو راغلې راشنا خبرې کړه ―――― ۵۵
۴۱ : یاد شرابو نه نشې وباسه ―――― ۵۶
۴۲ : د سحر باده دا ارمان یوسه ―――― ۵۷
۴۳ : ننګه کلي د مرسپد و ډکه شه ―――― ۵۸
۴۴ : ستالهٔ سپینه مخه ځار نما زیګے شه ―――― ۵۹
۴۵ : د هجران په شپه درې په لاس کښې راغله ―――― ۶۰
۴۶ : تر څو ته چې نیږهٔ کیږی کله کله ―――― ۶۱


Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ

٤٧ : ستا د ښکلي مخ شمعه چې مې شرله ______ ٦٢

٤٨ : بیا به سره وکړو اوس ځواني ده دومره دومره ______ ٦٣

٤٩ : شکر دے چې زه هم د شپې شومه ______ ٦٤

٥٠ : کله چې په فکر کښې د ستا یمه ______ ٦٥

٥١ : د لارې خاوره شوم د پښو ځنې وتلې یمه ______ ٦٦

٥٢ : توبه څنګه ترېږي که په هوښیار باندې وختر نه ______ ٦٧

٥٣ : ما په مثال لکه پتنګ وګڼه ______ ٦٨

٥٤ : د ستا د خلې چې فیصله ماته شوه ______ ٦٩

٥٥ : تر د نمر په خرېږ کښې دا قسم مه را کړه ______ ٧٠

٥٦ : ته خو وایه زه به څه کړم، زړګیه لېونیه ! ______ ٧١

ۀ

٥٧ : ځیګر چې شو کباب په لمبو را رډ وکړیدۀ ______ ٧٢

٥٨ : لوے دریاب د مینې نه شي په داوړه نږۀ ______ ٧٣

ی

٥٩ : دا مې بله شپه به په نصیب سره راشي ______ ٧٤

٦٠ : عکس د ستا زما د سترګو له څڅا ره وځي ______ ٧٥



٦١ : د ستا سترګې چې کړمې د زړه نه وځي ______ ٧٦

٦٢ : زړګیه ! تا دې چې درد ونه څه دی ______ ٧٧

٦٣ : چې پښېمان نه شې په یا کښې څه دی ______ ٧٨

٦٤ : کله د ستا د خندې په ورشپې دی ______ ٧٩

٦٥ : د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دی ______ ٨٠

٦٦ : زما چې دا مدام د غه دلبر ته سترګې دی ______ ٨١

٦٧ : ټن ټن ماته هسې بله دنیا ښکاري ______ ٨٢

٦٨ : زړه چې کله هر څه را نه هر څه غواړي ______ ٨٣

٦٩ : زما زړه او د ستا سترګې سره چړقېږي ______ ٨٤

٧٠ : ما ته چې ټن به چې زړه د چرې څې ده دونه دکا تېرېږي ______ ٨٥

٧١ : شنه چې پرې پټمان ما دیار سره جوړېږي ______ ٨٦

٧٢ : د وخت دګذار د نې چې ماغزه نه جوړېږي ______ ٨٧

٧٣ : تر د به اېله څه دلبر شي نه پاتې کېږي ______ ٨٨

٧٤ : سترګې دې کړه برنډې چې وختړنه را خطا شي ______ ٩٠

٧٥ : په ارمان د تا د ای شي چې هوښیار شي ______ ٩١

٧٦ : ددې دنیا نه چې ګلان ورک شي ______ ٩٢

٧٧ : چې چې رونړ دے دلبر به پیمان شي ______ ٩٣

٧٨ : ستا چې خرد ې زلفې کړ نهې راتار شي ______ ٩٤

٧٩ : ورانده چې به چې ما وې چې کاته به شي ______ ٩٥

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



مخ
۸۰ : خزان لا پرشي بهار راشي کلان خوشحاله شي ———— ۹۶
۸۱ : راشه په کوخو کښې د جګر خبرې نه شي ———— ۹۷
۸۲ : دا ستا په سترګو کښې به څه پاتې شي ———— ۹۸

## ے

۸۳ : زړه په ما دومره دے چې نارے مخ دے ———— ۹۹
۸۴ : شوک چې ستا د ګرانې مينې طلبګار دے ———— ۱۰۰
۸۵ : خوږ خوږ د مينې په ترخو کښې انتظار دے ———— ۱۰۱
۸۶ : خدايه څومره بې وفا زما دلبر دے ———— ۱۰۲
۸۷ : ما دې ګمان راته اشنا دستا په ښهر دے ———— ۱۰۳
۸۸ : شاته چې حسن دې اشنا د سرو لمبو نه ډک دے ———— ۱۰۴
۸۹ : تک تور سرے دا ستا سرے وربل دے ———— ۱۰۵
۹۰ : څومره ورېږي په زړګي باندې چې غم دے ———— ۱۰۶
۹۱ : ستا په انتظار کښې ماته کال څه دے ———— ۱۰۷
۹۲ : چې نړۍ چې ستا په تورو دے په بل تورې پیوند نه دے ———— ۱۰۸
۹۳ : چې لږ نظر هم د ... باقي دے ———— ۱۰۹
۹۴ : سترګې دې چلېږي وخندا زده کړے ———— ۱۱۰

## ې

۹۵ : دا ځان سپېڅلو کښې مسکې دې ماليدې ———— ۱۱۱
۹۶ : اشنا چې ن ليده تيرې وعدې را يادېدې ———— ۱۱۲
۹۷ : زما د اميدونو غونچې شېږي وغوړېدې ———— ۱۱۳
۹۸ : چې ښکلي دې وخندېدې شرمېدې ———— ۱۱۴



مخ
۹۹ : چرته شروع په دې چې په کنځل کښې خکه ښکاري ———— ۱۱۵
۱۰۰ : اے ګله ستا چې ډکې له خندا نه سترګې لاړې ———— ۱۱۶
۱۰۱ : کله دې دا زلفې په لاس راغلي اشنا بيا به څه کړې ———— ۱۱۷
۱۰۲ : د پره خوشحالۍ به نه وه بيا ماله هم پرې ———— ۱۱۸
۱۰۳ : لکه مجنون غم ندې کړ څم په بيابان مرېږي ———— ۱۱۹
۱۰۴ : راشه اے ماه تابان په توره شپه کښې ———— ۱۲۰
۱۰۵ : چې د سترګو دې ښکار نه زما سترګې ———— ۱۲۱
۱۰۶ : خود د هغې پرې کړې چې شرېږي زما سترګې ———— ۱۲۲
۱۰۷ : د ستا چې نه وينم دا تورې سترګې ———— ۱۲۳
۱۰۸ : څه د شرې چې سترګې مې په تابانه څرېږي شرلي ———— ۱۲۴
۱۰۹ : چې اشنا نه کړې ايسار به پرېږم ولي ———— ۱۲۵
۱۱۰ : اوښکې نه کېږي خر باماتې شرېږي ———— ۱۲۶
۱۱۱ : نه به په نړه کښې ماته څه راکړي ———— ۱۲۷
۱۱۲ : نه ما ستا تيلي پر په سله نه لېږ ———— ۱۲۸
۱۱۳ : هر څو کړه مې د زړه قرار له راغې ———— ۱۲۹
۱۱۴ : داسې راته ګرځي که نه چې راته ګرځي ———— ۱۳۰

## سندرې

له ۱۳۲ نه تر ۱۶۵ پورې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې عاشق د معشوقې پهٔ لور کا تګ کا
خو د لیمهٔ شي کم طاقته پېړواتهٔ کا

چې پلو له مخه لرې کړي رڼا شي
لکه ستوری د سبا چې راخاتهٔ کا

لرې عکس د زړهٔ واخله که دې شک وي
چې دا تور باڼهٔ دې څرنګه ویشتهٔ کا

پهٔ مئین زړهٔ څنګدن شي چې یار راشي
پهٔ هیبت زړهٔ پهٔ ګوګل کښې الوتهٔ کا

د خاطر پهٔ زړګي داغ د بېلتون کوره
چې د یار پهٔ لور کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ کا

چې اشنا یې ستمګر شي نو به څهٔ کا
چې زخمي څوک پهٔ څیګر شي نو به څهٔ کا

چې ټول عمر یې تېر کړے پهٔ پالنګ وي
څهٔ چې زمکه یې بستر شي نو به څهٔ کا

چې پهٔ عمر کښې یې غم لیدلے نهٔ وي
چې د غم سره یې سر شي نو به څهٔ کا

انتظار چې د وصال پهٔ ګومه شپه کړي
د بېلتون چې پرې سحر شي نو به څهٔ کا

کهٔ دیدن د یار مونده پهٔ د پرهر شي
چې غماز د چا رهبر شي نو به څهٔ کا

زهٔ خاطر خو همېشه داغسې وایم
چې اشنا یې مسرور شي نو به څهٔ کا

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړهٔ مې کوي هر وخت دردونه آشنا
لږ خو مې واوره فریادونه آشنا

ترڅو به ژاړم ستا په مینه کښې نهٔ
ګوره داو بڼکو مې سیندونه آشنا

اوس دې لهٔ غمه خلاصېدے نشم
ما وې په عشق کښې وي خوندونه آشنا

نن په جبین کښې دې خالونه خوردي
دي په چشمانو مې ګردونه آشنا

کهٔ ستا په خیال کښې دے اجل ته قریب
د خاطر شته دي ارمانونه آشنا



کاڼي بوټي دي دیار د محمدؐ
ما منلي په دیدار د محمدؐ

ګل نګونه به یې لارې شي په مخکښې
کهٔ چا ونیوله لار د محمدؐ

د دُنیا واړه ګلونه به یې هېر شي
کهٔ چا ولیدهٔ ګلزار د محمدؐ

چې د دې دُنیا ژړا او خندا نهٔ وے
نهٔ وے شمع په مزار د محمدؐ

د یادونو یې وصال ګڼه خاطره
چې قرار وي یې قرار د محمدؐ

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خبر نن کړ د رته ما وکتل تا را وکتل
خو کوم دم به دې بیا کړ دې سبا را وکتل

هم د غسې ګلونه وو چې مینه جوړېدهٔ
غږ وشو پسرلے دے کهٔ آشنا را وکتل

دنیا را ته ګوري د کتو نه وو تم
چې تا نه مې کتلي دي هر چا را وکتل

پهٔ مخه باندې راغلې مخ دې خله پټوهٔ
کړه غم دې را ته جوړ چې دې پهٔ شا را وکتل

ډنګه
دستې مې و خندل هم دا مې وهٔ ارمان
تا چې اے رقیبه پهٔ خندا را وکتل

یو دم مې زړهٔ نرے شو لو هم زو لو خاندلمهٔ
خاطر چې غریبو نیولي پهٔ ټپا را وکتل

[illegible]



د ستا د حسن تماشې واخستم
تکه لوګے پهٔ سر لمبې واخستم

لاس خو یې رانهٔ کړه چې مخ پټوي
ګوري یاران یې د غم شپې واخستم
دا د رته سوال کړم چې سوال نشم کړے
وایې خله ته چې ستا اسرې واخستم
سبا یې بیا پهٔ زولنو کښې ګورمه
نن یې چې فکر د کوڅې واخستم
سم دې د مخ پهٔ سبا پوه نهٔ شومه
کهٔ دې د زلفو توري شپې واخستم
ګور د تور نتوون را ته یو پوړ بنکاره شو
چې تصور د هغې واخستم
بس یاد دوم دې نور دې مهٔ تنګوه
چې ته مې هېر نشې غمې واخستم

خاطره ته او دا دنیا دې پرېښه
نهٔ بس د عشق یوې قصې واخستم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

وواېه شم تا نه قربان ځنګه وکړم
نور ددې د پاسه په ځان څنګه وکړم

ته خو به کمځي د زلفو جوړې کړې
زه په دې شلېدلي ګرېوان څنګه وکړم
ته خو چا ته نه ورځې، خو زه یا غلم
زه یم ستا په ور کښې مهمان، څنګه وکړم
زه به نور څنګه نه کړم بس دے سوال کوم
نور خو زما نشته دے توان، څنګه وکړم
ستا په طمع ځان له پاتې شوے یم
تول خو راته لاړل یاران، څنګه وکړم
پوه دې چې په ځان کړم اوس چې نه پرېږدې
بیا به داسې نه کړم سلطان، څنګه وکړم
چا به د غم ټک ټوټوندون اخستے وه
بس خو چې پیدا شوم انسان، څنګه وکړم

اوس خو زه خاطر په څنګه پوهېږم نه
تا چې کړمه داسې حیران، څنګه وکړم

○



○

باغ د مینې دې د خیال په کښې غنچې کړم
ستا د مغ په تصور کښې تماشې کړم

بل به نه وی یاره ستا غوندې کښې حُسن
شمله اور د خپله لاسه در پسې کړم

ستا د مغ کتاب د زړه په سترګو ګورم
په ځان تېرې شپې او بدې راخورې کړم

نه خاطر خو یاره ستا د مغ کتاب ته
پې له تا نه په خبر کښې ورځې شپې کړم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زۀ لکه د موم پۀ شان دیدار ته اوبه کېږم
پرېږده چې اوبۀ شم ستا رخسار ته اوبه کېږم

چرته شې خوبونه شپې پرې ستورې محفل جوړ کړې
همدا يې مشغولا شی ستا سپېګار ته اوبه کېږم

زۀ پرې بندۀ پوهېږم ستا لېدل زما اجل دے
بيا يې هم وار نۀ شی ستا يو وار ته اوبه کېږم

اوس خاطره ولې خداې پۀ زړۀ کړم دومره سخته
بيا چې پس لۀ مرګه ستا مزار ته اوبه کېږم



ستا پۀ اُلفت کښې به هوښيار نۀ شم
خو چې د عقل نه وزګار نۀ شم

سود يې د عشق پۀ لېونتوب نۀ شی
خو چې رسوا دې پۀ بار بار نۀ شم

يار يې وفا دې ماته هله وائي
چې ترې لاسر او ماله زار نۀ شم

خو چې پۀ تورو خاورو سوړ نۀ شم
سوړ به دې هم سره پۀ ديدار نۀ شم

کۀ د منصور غوندې پۀ دار شم اشنا
دا ستا لۀ عشق به توبه ګار نۀ شم

خاطره! داسې ګذار عشق راکړلو[1]
چې بل ګذار ته به بېدار نۀ شم

[1] متن او دیوان کښې ... [illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



واخلمه تا اوکړه دنیا واخلم
په خندا خرڅ که ژړا واخلم

لېږي دي پورته کړه دمخ نه زلفې
لږه سودا چې په دنیا واخلم

ته چې په سترګو کښې مسکې شوې ګلې
نه دې د دې میني بلا واخلم

تا ته چې ګورم په دوه زړونو کښې شم
یو قدم مخکښې بل په شا واخلم

مرګ او بېلتون راته جوړه راغلي
خاطره دا واخلم که دا واخلم



خوږمره چې زړېږم په ځواني پسې ژړېږم
خدایې زده نه ده پوهېږم چې ساده شوم که پوهېږم

نه اوله تا تګ داسې کله چرته شوی
دومره خو پوهېږم چې قدم اخلم ودرېږم
ته او ستا بنایست چې په ما څنګه څرګند شي
مه کوه ایله نن د هر څه سره جوړېږم
نه یمه خوشحاله ستا په غم کښې خفه مه شې
خدایې یې خلاصه کړه چې له تا ، مرورېږم
شان یې د کړو نه وی خو چې زړه مې شي راپورته
تا ته چې زه سوال کړم د خپل ځان ځنې شرمېږم
غوښته مې هم دا چې راته ووایې چې دومره
خدایې خبر چې بیا دې په پلو در ښکاره کېږم
ته که په یو ځل له ما خلاصېږې نو یې واخله
ته به راته نه شې کټ ځله له خفه کېږم

څنګه ما خاطر در ته دا ووې چې مې هسې کړه
پرېږده چې یې وار په هر ځای کښې در یادېږم

---

میاشتنی • قند • مردان . خصوصي ګڼه ۱۰ رکالیز نمبر (ص ۹۵)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



لکه کلي چې په اغزو کښې وينم
داسې يې زړه ستا په بڼو کښې وينم

رخسار دې وينم تور دې زلفو کښې ستا
لکه رڼا چې په تيارو کښې وينم

ګلفامه څو که لرې اوسې له ما
زه دې د نم په پلوشو کښې وينم

وستا ليدل تېر شوي خوب وه آشنا
بيا به دا خوب په کومو شپو کښې وينم

اې د سبا ستورې! با خبره په ورو
تله د آشنا دې په خټو کښې وينم

زما خاطر خاطر دې اوږد کښې ويسو
اوس يې لوګي په اسويلو کښې وينم



خوشحالي ستا شوه زړه يې نه اَخلمَ
د ستا غمونه واړه زه اخلمَ

تا يې چې زړه وړه ګواه هم نه لرم
اوس به له تا نه څنګه زړه اخلمَ

اول سپېڅلى ووم ستا د مينې د اور
اوس په ځان پوره شوم چې لمبه اخلمَ

په ويرانه دې ځم په ورو ستو ګورم اَشنا
زه قدمونه چې واړه اخلمَ

هر سړه ګړدو ته په خاطر دى د غم
په اسويلو کښې چې سباله اخلمَ

---

د منزل په کښې د الفاظو غمونه دننه چې صحيح نه دے .

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

پهٔ دې دُنیا کښې مسې شپې تېروم
لکه مېلمه یو دوه غرې تېروم

پهٔ ما زهیر مهٔ شې خومخ ښکاره کړه
پهٔ زړهٔ د ستا د مخ لمبې تېروم

خوشحال تهٔ کوهٔ چې غم نهٔ لرې
زهٔ لېونے یم چې تنګسې تېروم

دا زهٔ خاطر ستا د خاطر د پاره
پهٔ خپل خاطر د غم چپې تېروم

○



○

اشناکهٔ تا ته پهٔ کتو پوه شوم
نو بس پهٔ ټولو تماشو پوه شوم

بس خو معلومه شوه چې نهٔ رادرومې
ستا د دروغو پهٔ وعدو پوه شوم

یا د ساقی د میو خوند نشته دے
یا زهٔ ایله اوس پهٔ نشو پوه شوم

سوے به هم د خاطر زړهٔ وی داسې
زهٔ دې د مخ پهٔ سرو لمبو پوه شوم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



قسمته راسې دې ورده کړم چې بېدار نهٔ شوم
بخښې لهٔ تا ستا د غمونو نه وزګار نهٔ شوم

پهٔ دې دنیا کښې به غمېږ ستا لهٔ ژونده څهٔ ژوندوي
لېږم غوږ ځوېږم خو یو ځل پهٔ کښې خمار نهٔ شوم

ستا پهٔ الفت کښې هغه خوب چې ما لیدلے اشنا
د رقیبانو د جرګو ځنې وېزار نهٔ شوم

تهٔ چې راکوې زهٔ به هغه وخت پهٔ طمع ومه
یو ځل هم مونږ د ستا د خُلې پهٔ بڼه ګفتار نهٔ شوم

هغه وعده چې تا پهٔ سترګو کښې وه مانهٔ کړې
دا زهٔ خاطر دې د وعدې پهٔ انتظار نهٔ شوم

نور پهٔ زړهٔ مې نهٔ ځائېږي چې څهٔ وایم
دا نه بیا مسرورېږي چې څهٔ وایم

کهٔ څهٔ نهٔ وایمه هم راپورې کړی
پهٔ دې هم راته قهرېږې چې څهٔ وایم

د هر چا پهٔ لوری څمه داسې وخت دے
بیا مې وخت کله تېرېږی چې څهٔ وایم

کهٔ خبره نهٔ وی مانه خبر دے خبرے
بیا خپل حسن نه خبرېږی چې څهٔ وایم

دېره بنه پهٔ تا پوهېږمه خاطره
خو بس سترګې مې شرمېږی چې څهٔ وایم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ به کرګي مسې بنګلے زهٔ به مړ یم
چې یې اوس وکړے لږ لیدلے زهٔ به مړ یم

جنازه یې چې له کوره ګوره تــــه درومي
تهٔ به نهٔ وې راوتلے زهٔ به مړ یم

خدای د پاره پهٔ مزار یې چې را درومې
لږ شه ماته پښه نیولے زهٔ به مړیم

زهٔ به مړ شمه قرارې مړګے ورک شه
سره خاندې به تهول کلے زهٔ به مړیم

وچې ترګې به پهٔ ما وې را زرغون
وی مزار به مې مُښلے زهٔ به مړ یم

اے اشناچې دې وطن له تهٔ را درومې
خړ خښېږ خوږې لیدلے زهٔ به مړیم

خړې خاورې به پهٔ ما باندې انبار وی
هر سړے به دروی غلے زهٔ به مړیم

د کاکل پهٔ ختـه بند د مغ کتاب کړه
ما خاطر پهٔ خدای سپارلے زهٔ به مړیم



بنګلی مخ ته دې د موم پهٔ شان اوبهٔ یم
لکه کافے مسې کلک ورته پهٔ زړهٔ یم

چې پهٔ کومه لاره لاړشی زهٔ یې مل یم
لکه ګرد یې مسې خوړ پهٔ هر یو پلهٔ یم

زهٔ پهٔ کومو سترګو ځان ته بیمار وایم
چې د ستا نوم اخستے شمه نو ښـهٔ یم

ستا لیدل لکه د خوب لیدل دی یاره
پهٔ دې خوب پسې لا مفتي وُدهٔ یم

لږ د ځان سره پهٔ زړهٔ کښې فکر وکړه
زهٔ خاطر دې چرې یو ځلې پهٔ زړهٔ یم

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



کوره چې رنګ مې سوې سکروټه نهٔ یم
طاقت مې نشته ستا د زور نهٔ یم

راځه د سترګو نه مې مهٔ ځه ډېرېږه
سرې په ژړا دې ځهٔ مېخوږ نهٔ یم

دې اسوېلو ته مې تهٔ نهٔ ګورې ځهٔ
سوے په اور یم سوے لوږ نهٔ یم

ستم کوه تهٔ منع کړے یې چا
زهٔ لا خاطر مړے د ګور نهٔ یم



سپرلیه زهٔ دې په غُنچو کښې نهٔ یم
عادت په داسې تماشو کښې نهٔ یم

کهٔ راکوې نو سم شراب را کوه
زهٔ دې ساقي هسې اوبو کښې نهٔ یم

اے خدایه بس ما خپله ورځ ولیده
د داسې ژوند په تېرېدو کښې نهٔ یم

د ستا بانهٔ د ستا رخسار په خاطر
بې د ګلونو په ازغو کښې نهٔ یم د

تهٔ ما خاطر ته هسې سټ خو وکړه
چې خفه نهٔ شې په درتلو کښې نهٔ یم

[illegible] دیوان کښې دا بیت د غزل [illegible] بیت دے

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

ستا د منزل په منزلونو کښې يم
د دستېدو په اميدونو کښې يم

نه مې دنيا نه مې عقبا ګټېږي
دغې سودا او دا فکرونو کښې يم

د ستا د رخسار به مې هېر نشي اشنا
که د بهار په سرو ګلونو کښې يم

زما په زړه کښې خو هم ته يې اشنا
دا نه خاطر که د چا زړونو کښې يم

○



○

ياره ستا مينې په اور سېځلې يم
دوغ به نشمه په زړه داغلې يم

خو دم قسم چې ترهغې پورې ژوندې يم
ډېر دې نه په تش ديدن ساتلې يم

همېشه سر په زنګون په غم کښې ناست يم
ياره تا کله خوشحال ليدلې يم

خوار خاطر ولې چې دا کومه ګناه ده
چې له در دې بېنوا شړلې يم

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ژوندی کله نهٔ ماپهٔ دی چې لهٔ خاورو
نهٔ ماپهٔ دی نهٔ ساپهٔ دی چې لهٔ خاورو

چا چې خاورې ځان ګڼلے پهٔ ژوندون دے
هغه چرته کښې وُدهٔ دی چې لهٔ خاورو

د انسان سره چې غم مل شي نو کلک شي
دیوال کړے چا وبهٔ دی چې لهٔ خاورو ¹

د خاطر رنګین غزل ته حیرانیږم
پهٔ دې خر خیبر کښې څهٔ دی چې لهٔ خاورو

¹ ستر لیکه او دیوان کښې د (ماپهٔ) پهٔ ځای صرف پهٔ (د) لیکلے شوي چې صحیح نهٔ دے
² ستر لیکه او دیوان کښې غلط مصرعه داسې لیکلې شوې ده :
دیوال کړے چې اوبهٔ دے چې لهٔ خاورو .



خرد به نهٔ تېرېږمه پهٔ سره سترګو
تېرو تمه ستا پهٔ لېمونو سترګو

مهٔ توروه تورې بلا سترګې دې
پام چې در ته نهٔ شي د سپېره سترګو

عمر له يې کار وي د ژړا سره
وهٔ چې کوړې چا ته پهٔ معصوم سترګو

بس کړه د خاطر سره ځلا شه تهٔ
خلق وېره عزت کړي د نهو سترګو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به څهٔ یوسې زما په تورو سترګو
زړهٔ دې وړے لا پخوا په تورو سترګو

کهٔ پروا کړمه خو زهٔ به دې پروا کړم
نور دې څهٔ کوی پروا د تورو سترګو

وړې سترګې مې د سترګو په هر لورشي
کړم دې داسې وارخطا په تورو سترګو

کړې مې سترګې ستا د سترګو قدر دومره
ور به یې نهٔ کړم د دنیا په تورو سترګو

نهٔ خاطر دې دګلو سلائی وے
ښکلولے دې اشنا په تورو سترګو



بیا دې سخی نهٔ کړم په هغو سترګو
یو ځلې هم هغسې په مړو سترګو

نهٔ مې شته په تورو سترګو شک د زړهٔ
بس خو زړهٔ مې غل دے ستا دغلو سترګو
زهٔ یې کړم آشنا لهٔ شوګیرو سره
یو مې پل خوبونه ستا ودو سترګو
نهٔ یم چې د زړهٔ په سترګو تا وینم
چارنا لیدلې په ړندو سترګو
خپل مې واړه بدراڅې په سترګو کښې
ستا د پاره خپل شوم د ړندو سترګو
ستا دې اوږدو وروځو ته حیران یمه
څومره ښکلې ښکارې په دې دو سترګو
خبر دے دا زما سترګې خو بدې شرې
ته خو راته ګوره په دې ښو سترګو

څومره ترینه وُښې دی حیران یمه
سترګې د خاطر ستا لهٔ مړو سترګو

ریډیو پاکستان پېښور (مسودات)

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شوق یې ستا د ږیرو پېغورونو سره لاړلو
زور یې شو اوبه د ستمونو سره لاړلو

خوښ یې اننګې شول د بڼو ازغي یې مېږ شول
زړه را نه بلبل شو د ګلونو سره لاړلو
وږمې یې کړې تېنګې خو اخر یې اوښکې لاړلې
تاو د محبت د ارمانونو سره لاړلو
سترګې یې نیولې ستا د مینې په کاروان کښې
لاړلو نظر یې د ګردونو سره لاړلو
زه تر پنه لوګے شم چې به څه سوے ترې راشي
زړه را نه د یار د دیدنونو سره لاړلو
چرته واسې یار شته لکه زه په انتظار یم
ستورے د سبا هم د فکرونو سره لاړلو
چرته به زما لېونے زړه پرې مشغولیږي
ستا د تورو زلفو د ځنځیرونو سره لاړلو

څو به دې مهار د عشق نیولے وي خاطره
ژوند د ر ځنې هسې د وختونو سره لاړلو

ما د وصال په شپه کښې توره شپه سحر لیدلو
حال یې د ځان لکه مجنون هسې اوتر لیدلو

دریغه چې شپه وه د وصال خو تر قسمته پورې
زه په دیدن نه مړیدم چې یې دلبر لیدلو
بیا د سحر غمونو هله لمبے کړے مه زه
سرې ماښام یې نمر اوچت د غره په سر لیدلو[1]
زه یې لا هیڅ په سرو لبانو باندې نه یمه پوه
لا په اسمان یې چې د لمر په ځاې قمر لیدلو
په تصور کښې یې د ځان سره کول فکرونه
په هغه شپه چې به غماز جوړې محشر لیدلو
چې یې را یاد کړل هغه تېر د جدایۍ وختونه
له غمه ډک یې تر هغې پورې اختر لیدلو

خاطره بس کړه د وصال طمع پیدا شوه د یار
وائي ربار چې یې جانان دې مرور لیدلو

[1] منزل لمبڼه او دیوان کښې دغه اوړې معنې مصرع داسې ده:
د ماښام سر سرے نمر یې اوچت د غره په سر لیدلو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

باد شومه دعشق دګړ نګونو پهٔ سرونو
پرېوتم دلبرې وطنونو پهٔ سرونو

دېښه چې دستا د اننګو خوله هم نهٔ وې
پرخې نه چې ګورم دګلونو پهٔ سرونو
ستړګې به زما شي اخر غرقې پهٔ ژړا کښې
ګرځي چې کشتۍ دګرداېونو پهٔ سرونو
مات پهٔ ما نظر کړه چې سپهر ستړګې حق حیران شي
درد مې کړه دلبرو محلونو پهٔ سرونو
هسې هم ایږې یمه د باد سره الوځم
سکور مې څله نیسي د زخمونو پهٔ سرونو
ځان به خاورې نهٔ کړم غم د یاره که څو پرېشي
خاورې دې پرتې وې د تېغونو پهٔ سرونو

بښکلی به سر تیټ کړي یاره ستا پهٔ تصور کښې
دېر خاطره ستا د غزلونو پهٔ سرونو



څو به سره پټ دواړه پهٔ زړهٔ ذره ذره یُو
کهٔ دا دې خوښه نهٔ ده چې صرچا ته دې ښکاره یُو

یو دغه ښېلتون دے چې عزت مو پهٔ کښې پرېږدے
څو به پهٔ کښې وایو چې مدام دې دربدره یُو

تهٔ زما پهٔ سوی[۱] شمعې زهٔ ستا پهٔ انتظار کښې
هر کله چې وی نو مرهٔ به دواړه پهٔ یو شپه یُو

نهٔ به کلهٔ وایم کهٔ دنیا پهٔ بله واوړی
ګرځي دې نور خلق مونږ پهٔ خپله تماشه یُو

پوخ به مې سوګند شي پهٔ کښو ودځو دیار
اوس به دواړه څهٔ رقیبه تورې پهٔ اوږه یُو[۲]

راشه مروره چې مې شک لهٔ خاطره وځي
وایو به ربښتیا چې دا پهٔ څهٔ سره خفه یُو

۱ـ دیوان او متفرقه کښې سوی چهره لیکلې ده [illegible]
۲ـ دا شعر متفرقه کښې نشته.

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ځکه مې نن په سوزېدو تېر کړه
چې مې پرون په مستېدو تېر کړه

زما خو ستا منزل مقصد دے اشنا
زړه مې له ټولو مرحلو تېر کړه

دلسوزي مه ګڼه تپوس همدمه
ټول مې عمر په لمبو تېر کړه

زما دا ټپ ژوندون زما خو نهٔ وهٔ
ټول مې د ستا په تلو راتلو تېر کړه

یار بیا د چا لهٔ تورو زلفو نه ګرم
یوځلې مرګ راباندې دو تېر کړه

لکه د شمعې بېګا ستا په طمع
ټول انتظار مې په سلګو تېر کړه

زهٔ چې سپېلي ته ورځېږ نهٔ یمه
ما د دیدن په رنګینو تېر کړه

ژوندون د عشق لمبې ژوندې غځه دی
سر مې لهٔ واړو ګړنګو تېر کړه

اشنا د ستا د بنګلي مخ په خاطر
ما خپل خاطر په سرو لمبو تېر کړه

ښه شوله ورېږه چې انکار دې وکړو
زما د واړه عمر کار دې وکړو

خلق چې ښه ولې ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړلو ګذار دې وکړو

د زړهٔ زخمونه مې بیا هله شماره
کهٔ د دې خپلې خندا شمار دې وکړو

زهٔ لا خفه نهٔ وایم چې داغ مې په زړهٔ
تهٔ لا خفه یې چې دیدار دې وکړو

خاطره زهٔ لهٔ تا نه چا وېږي یم
وار به دې راشي کهٔ لږ وار دې وکړو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خیر نۀ وم دې ثواب او دې عذاب ته
خو تصوير وم ستا پۀ دروغو کښې محراب ته

ما وې تل به خوشحالي وي ستا پۀ عشق کښې
اوس مې نۀ پرېږدي غمونه اشنا خراب ته

ستا د سرو شونډو ارمان خوځله راشي
کله کله چې نظر وکړم ګلاب ته

يو ذره يې لرې نۀ کړل د مخ نه
فکر يوړم د اشنا د مخ نقاب ته

نور يادونه مې پۀ ياد کښې رانه هېر شول
يو دوه نۀ راځي چې کښېنم حساب ته

وايې زړۀ به زما هم داسې تک تور وي
چې خاطر وکړم نظر سرې کباب ته



زۀ يمه حيران د دنيا سترګو ته
ګوره کتے نۀ شي د چا سترګو ته
ستا د ښکلو سترګو بلا واخلمه
مخ دې کړمه سترګو بلا سترګو ته
راشه اهو چشمه ليونے شومه
سترګې مې صحرا دي د ستا سترګو ته
ستا چې خندنو سترګو ته ګورمه
راځي شي لۀ واره ژړا سترګو ته
راخو دې پۀ خپله اشنا کړې دي
څله مې نۀ وړل کړې اشنا سترګو ته
ستا خندا برېښنا وه د فلک غوندې
بيا را نغله هغه ژړا سترګو ته
تا جوړه اراده د راتلو کړې دي
ښکاري مې رنګينه فضا سترګو ته

تن خو مې خاطره ستا خاطر وکړه
بيا به نۀ راکوزې سبا سترګو ته

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ته چې رقيب ته اشارې کړې دا د مل نښه ده
ته چې دا غلې غلې ګورې دا د غل نښه ده

کله يقين کړمه په دا چې مرور يې له ما
ما ته معلومه ستا په سترګو کښې د چل نښه ده

ته چې تپوس را نه مُدام کوې چې څۀ لټوې؟
زۀ چې دا لاس په سينه ږدم دا يې اول نښه ده

خاطره تا چې بيګا خوب کښې د هجران ليدلے
يقين مې دا دے اخرې ستا د اجل نښه ده



خواږۀ تراخه شو د خوږو ورځې نامه پاتې ده
د بدو شپې دې او د ښو ورځې نامه پاتې ده

ته را نه هېر يې خدايه هر څۀ په دولت کړمه
د دعاګانو د ښېرو ورځې نامه پاتې ده

په سترګو ژړو او په زړۀ کښې سره خاندو اشنا
مۀ کړه ګيلې د ژړېدو ورځې نامه پاتې ده

په ډېره مينه کښې چې زۀ او ته پرې نۀ پوهېدو
د عشق د ورځو او د شپو ورځې نامه پاتې ده

چې په پلو کښې به يې په زړونو باندې اور لګوۀ
د ستا د عشق اننګر ورځې نامه پاتې ده

صبا به وائې چې د خداې په خاطر راشه لږه
په ما خاطر کښې د ژوندو ورځې نامه پاتې ده

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

بېګا ستا پهٔ انتظار ې مسې ستېړې تړله شپه کړه [۱]
خندل راپورې ستوري چې سپوږمۍ راته ګیله کړهٔ

ورته سر پهٔ زنګانهٔ وم د وصال تږی ته غلے
ما به کله کله بنه کړه چې بېلتون راته قصه کړه

شو پهٔ منډه نظر ستهے چې هر ستوری به ځلېدهٔ
چې د ستا پهٔ لور به تللو هغه ستوری به مزه کړهٔ

ورسره به یې تهٔ وچړی کهٔ شپه وچړی د خاطر نه
پهٔ ټوله ټوله فُدهٔ شي خو وعده یې ستا پوره کړه

○

---

۱ صحیح مصرع داسې پهٔ کار ده : خندېدل راپورې ستوري چې سپوږمۍ ته راته ګیله کړه



○

لبِ د نقاب لرې کېدل زده کړه
زما پهٔ لورې سم کتل زده کړه

پهٔ جار خندا به رقیبان پوهه شي
پټ پهٔ لېمو کښې مسېدل زده کړه

اے زړهٔ چې سم دا واري وتهٔ چوي
تکه تنها که ترکېدل زده کړه

تهٔ ما خاطر ته نصیحت مهٔ کوه
ناصحه مانه پوهېدل زده کړه

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما پهٔ شوګیر تا پهٔ خوبو تېره کړه
شپه مې سپوږمۍ ته پهٔ ګیلو تېره کړه

بېګا رانغلې شمع دو یه اشنا
ما ټوله شپه پهٔ درېدو تېره کړه

مینه د ستا زما نور زړهٔ سوزوی
هسې لمبه دې پهٔ اېرو تېره کړه

دا ما خاطر ستا لهٔ خاطره اشنا
د هجر شپه مې پهٔ سلګو تېره کړه



رقیبه پهٔ خبر راغلې د اشنا خبرې کړه
پرېږده نورې نورې بس هم دا خبرې کړه

څو به پټې سترګې زهٔ د اوښکو کړم
ګلفامه راشه راشه دغه بیا خبرې کړه
نورې دا غمژنې د جفا خبرې پرېږده
کله کله یادې د وفا خبرې کړه
سود مې کله کېږي د ساقي پهٔ پېمانو
د ټولې میخانې او د مینا خبرې کړه
نم مې شو د سترګو سپین د اوښکو پهٔ سېلاب کېږي
بس نور شه راته وایه د خندا خبرې کړه
پهٔ خود نهٔ یم تپوس راځنې مهٔ کوه ددې
اشنا ما لېونی ته د صحرا خبرې کړه

خاطره چې ونهٔ کړې د بل چا د غم سودا
د یار د تورو زلفو د سودا خبرې کړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



یا د شرابو نه نشې وباسه
یا خو ترېخ زما له خُلې وباسه

یا مې د زړهٔ رازونه مهٔ لټوه
یا دې صحرا ته قافلې وباسه

څهٔ لټوه تنګه دنیا که شوه دربه
زر مې د ژوندنه لا قفسه شپې وباسه

د آشنا یاده نور مې مهٔ تنګوه
لهٔ دې سرای نه قافلې وباسه

اور د خاطر د زړهٔ په خونه شو بل
ستړې د سترګو نه مې سرې وباسه



د سحر باده دا ارمان یوسه
یوسه په لوری د جانان یوسه

زړه ارمانه دا ارمان دې لرم
که مې خو ما سره د ځان یوسه

چې دې د حُسن چمن ترې نهٔ شی
زړه د اوښکو باران یوسه

ته چې مسکې شې زما زړهٔ ته ښکلیه
دا د غمونو ډک جهان یوسه

خوبه زر زړه د آشنا سره
دومره خو زړه دا چشمان یوسه

لږ د خاطر کړه شمع روښه خاطر
بهار دې راوله خزان یوسه

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

نکه کلی لهٔ مسپدو ډکه شه
بانډهٔ دانیغ کړه لهٔ اغزو ډکه شه
چې ستا خوږو زلفو ته نښه نهٔ شوه
زما څنګل لهٔ زولنو ډکه شه
کهٔ یې هر څو دروسره فیصله کړه
خو زما مینې لهٔ پښتو ډکه شه
چې ې ژوندون لهٔ رنګینو نه ډک شی
بیا پهٔ غُصه کښې لهٔ نشو ډکه شه
بس پیښمانی لهٔ زړهٔ نه وباسه نن
وړیږه مه لهٔ اشارو ډکه شه
چې تا ې هم ګرېوان ته څیرې وړې
هم ستا کوڅه یې لهٔ تږو ډکه شه
ښهٔ دې زړهٔ تش کړه چې بیا بیانهٔ وائې
فضا زما لهٔ اسوېلو ډکه شه
بدخواه چې لاس پهٔ سینه کښېږدی درته
دخیبر څانګې لهٔ اغزو ډکه شه
خاطره یار دې پهٔ خیبر کښې اوسی
تږله دره لهٔ سپېلنو ډکه شه

ستا لهٔ سپینه مخه زار زما زړګے شه
هم دا ستانه سپېلنے اوهم لوګے شه

ستا پهٔ ژبه باندې هره ژبه خوند کا
اے اشنا یا اپرېدے یا پېښورے شه

زهٔ او تهٔ دچا ژړا او خندا څهٔ کړو
زما او ښکې دې باران ته پسرلے شه

اوس دګل څنې تهٔ لرې شه رقیبه
یا پخپله باندې ګل شه یا اغزے شه

زهٔ خاطر دې نور خاطر کولے نشم
اے رقیبه کهٔ پوهېږې نو سړے شه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د هجران په شپه ړیوه په لاس کښې راغله
خدای خبر چې چرته تله په لاس کښې راغله

رقیبان خو دې اوس تږول راله راتېر شي
چې یار راغے نو وصله په لاس کښې راغله

چې مې صبر اُمید دواړه پسې خوړ کړل
چې لۀ ځانه خبرېده په لاس کښې راغله

چې د سترګو د سرو شونډو او د زلفو
تصور یې یوه څېره په لاس کښې راغله

چې په تلو کښې شوه مسکې نو بیا به راشي
اے خاطره بس راځه په لاس کښې راغله

ترخو ته مې زړۀ کیږي ګله ګله
په خوږو سړے مړ کیږي ګله ګله

د دردمندو نظر هغوله په کار دے
چې دلاسه دې ښۀ کیږي ګله ګله

چې اشنا د چا نه ورک شي موندے نشي
پسې ځان هسې ورکیږي ګله ګله

ښکاري یار مرور نۀ دے اے خاطره
په لمبو کښې چې اوسیږي ګله ګله

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا د بنګلي مخ شمع چې مسېږه شوله
جوړه په محفل کښې تورده شپه شوله

راشه لږه واوره د اُلفت قصه
بس دے نوره زړه کښې مې نړه شوله

ډېرې وعدې بنې وې لږې لنډې
اوس دې هر يو کال راته وعده شوله

تا چې د خاطر خاطر و نهٔ کړلو
ښه شوه ډېره ښه شوه اشنا ښه شوله



بيا به سره ګورو اوس ځواني ده درومه درومه
څوک کړي دومره غم خو ديواني ده درومه درومه

اوس ته ايله راغلې چې بس وخت د ځنکدن شو
بيا راته ګرانېږې آساني ده درومه درومه

مې يې چې بازار کې د بنايست دے ګرم شوے
هر شے په کښې خټلے دے ګراني ده درومه درومه

نهٔ او ته خاطره نور په ځځهٔ سره خوابهٔ يُو
مينه خو هم دا پښېماني ده درومه درومه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

شکر چې نهٔ هم ستا د ښېرې شرمه
اوس دې چې نهٔ ښکلېد کوڅې شرمه

نهٔ به په ځان څهٔ وکړم چې راشې تهٔ
واړه دې پهٔ طمعه کښې ذرې شرمه

د ومره د رننزدې يم کهٔ څو لرې يم
لرې به شم نور کهٔ د ر ننزدې شرمه

نن څو دې خاطره چې سبا تهٔ وے
پوه دې نهٔ د مکر پهٔ وعدې شرمه



کله چې پهٔ فکر کښې د ستا شرمه
لاړ شمه لهٔ ځانه څو بيا راشمه

تهٔ کهٔ لرې ضد نهٔ څو پېښتو لرم
اوس د ر سره څرنګه پُخلا شمه

خيال او تصور ته به سلام وکړم
نهٔ کهٔ د خپل زړهٔ پهٔ تماشا شمه

تاو چې شي د زړهٔ نه ستا د مخ لمبې
کم چې ستا د زلفو پهٔ سودا شمه

نورې دې د مينې لارې سمې کړه
خدايږ خبر چې کوم پلو خطا شمه

عشقه راسې ځاي لره دې راوستم
اوس به نهٔ د ستا نهٔ د دُنيا شمه

نن دې د پرون وه د راتلو وعده
نن څنګه پهٔ طمع د سبا شمه

وړې چې غريو نيولې راکتلې دی
لږه به خاطر ته پهٔ خندا شمه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



دلاري خاوره شرم د بینو ځني وتلې یمه
اشنا په تا پسې له تلو ځني وتلې یمه

د آشنا مخه نور مې سرې ټپ وهلې نه شي
نه خو د اور او د اوبو ځني وتلې یمه

په بنه بنېره به دې نه لپ وهم نابلدمه اشنا
زړه مې اوس پوه دے د بنېرو ځني وتلې یمه

تا خو به نور راته خندلي وي چې داغله وش
که په ټټر دې د کوڅو ځني وتلې یمه

دغه داغونه مې دي بس دومره خاطر مې وش
نور د کړلو د کلو ځني وتلې یمه



تو به خنګه تېرېږي په هوښیار باندې وختونه
نا پوهه هسې تېر کړل په قرار باندې وختونه

هېچرې هم سخیان خو د سبا غمونه نه کا
له شومانو نه تېرېږي په خروار باندې وختونه
دا تېر وختونه بېرته له انکار سره چې تېر شو
ته راشه نور دې سم کړه په اقرار باندې وختونه
نه دے هسې کرم چې خوک په غم کښې دردمند بنکارېږي
په هر چا باندې تېر شي په خپل وار باندې وختونه
ګوره د عمر په نهر کښې نوره سودا نه وک
تېر چې شي د بنکلیو په بازار باندې وختونه
لکه باد هسې تېرېږي وخت په روغ او په بیمار
ودرېږي نه ودرېږي په بیمار باندې وختونه
د مخ دې تصور کرم خنګه مخ مې داسې تور دے
خبر نه یې کړل تېر مې په انکار باندې وختونه

ما خنګله به لتون کړے د دنیا له غم نه خلاص یم
خاطر ما بنکلي تېر کړل په خپل یار باندې وختونه

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ما په مثال لکه پتنګ وکړنه
ته دې د شمعې غوندې رنګ وکړنه

که مې کوثر شول نصيب د ديدن
بيا مې شهيد د عشق په ننګ وکړنه

زمکه بستر وي لېونو ته مُدام
زړګيه ته يې هم پالنګ وکړنه

لکه چې څومره ستا غمونه دي وړه
پړانه مې تپول په زړګي زنګ وکړنه

خاطر کچکول د ګدا واخستلو
اشنا ديدن په ځان قلنګ وکړنه



د ستا د خولې چې فيصله ماته شوه
نوره د زړه مې حوصله ماته شوه

شونډې دې مستې د پيالې نه وې
په زړه دې بله څه راتله ماته شوه
نور مې ساقي څه جُرم نه دے کړے
تشه له لاسه مې پياله ماته شوه
که به عوض کښې يې هر څه غواړې ته
دا مې په برخه د سپېده ماته شوه
لاس مې يې واګه چې جاسوسو ته ځي
ماښام خونه دے چې روژه ماته شوه

خاطره پرېږده د دروغو تربې
نوره زما او ستا ناغه ماته شوه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

○

نور زهر په خوږو کښې د افسون مه راکوه
دا بس دے اشنا نور دا نېړه چا ودون مه راکوه

ته تل کړه ستمونه خو په خپله اے اشنا
سزا د رقیبانو په لمسون مه راکوه

چې خو وکړې وعدې نو هو مره لاشې ي وعدې
دا دې وی در پاتې خو زبون مه راکوه

که زه چرې په خود وے نو په تا شیدا کېدم
په ستر ګو ماله پار بیا د جنون مه راکوه

هر څو که زه خاطر د اشنا اجل ته مغ شوم[1]
د ګوړ مبارکی خو په ژوندون مه راکوه

○

[1] د دیوان او منزل په نقلونو کښې مصرع داسې ده: هر څو که زه خاطر داشنا اجل ته شوم

○

ته خو وایه زه به څه کړم — زړګیه لېونیه
څه به کړم او څه به نه کړم — زړګیه لېونیه

تا خو وې آبادی پرېږده، ما خو پرېښوه دلته څه دی
په صحرا چې ګرځېده کړم — زړګیه لېونیه

چې اشنا کړی ستر ګې پورته بانړه ستا په لوړ ولاړ ږوې
زه یې کوم طرف کاږه کړم — زړګیه لېونیه

زه خاطر درته حیرېږم چې په څه باندې راوین شوې
چې په څه دې اوس وده کړم[1] — زړګیه لېونیه

○

[1] د منزل په او دیوان کښې (وده) دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څيګر يې شو کباب په لمبو اوده ونګېده
په ما دے يک تنها که په هر لوري وګلبده

چې لرې درنسږدې شوم د وصال په تمنا
دستا د ګنګرو کانو په ما شور وګېده
څيګر يې تش کوګل دے راشه وګوره تماشه
د سوو فريادونو تنګ تهکور ولګېده
زړګيه اُميد لنده کړه پس له دې نور له وصاله
بېلتون دې ځواني مرګ شي اوس يې زور ولګېده
سپين مخ دې رابنکاره کړه د نقابه تکه نمر
ورېل دې پرې د وربځو غوندې خور وګېده

خاطره خداې خير که بيا ديدن وکړې ديار[۱]
چې بيا د غمازانو داسې زور ولګېده

اشنا وې دا لرګی دی د خاطر د اسوېلو
رقيب وې ما زيګر شي په تن اور ولګېده

۱ منزل لنډار ديوان خاطر کښې داسې ده: خدا خاطره خدای ګړې ديدن وکړې ديار
۲ منزل لنډار ديوان خاطر کښې تن اور ولګېده شعر ده، چې معنی بدلوي او قافيه غلطوي



لوے درياب د مينې نه شي په واړه زړه
شو مه ياره بيا دستا غوندې په نه زړه

چې به خله کوي يو او په زړه بل
د هغه سره به مينه کړې په څه زړه

سوی د رنګ ته مې لږ وکوره دلبره
ما نيولے ستا د حسن په لمبه زړه

بېګا ستا په انتظار کښې شمع رو يه
د هر ستوري سره پورته مې خاته زړه

بيا مې خوب واړه تهريونه او هيبت شي
د هجران چغې چې وشي په وده زړه

يو غم نه دے چې يې وکړې اے خاطره
ډېر غمونه دی کوه يې په ساړه زړه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

داسې بله شپه به په نصیب سره راځي
په عمر کښې راځي خو د رقیب سره راځي

خوشحاله وې په غم کښې صُبح به سدا ره شاملام
را دروي خوشحالي دې د حبیب سره راځي

خوځي په تندی يې د ازل لیکلی نه وي
دومره زحمتونه د غریب سره راځي

خندیږي او ګډیږي سره ګلونه د صبا
نغمې چې د بهار د عندلیب سره راځي

نور خلق که رغیږي په دارو د طبیبانو
خاطر ته مرضونه د طبیب سره راځي

○

ل متن لمبه ار دیوان خاطر کښې الفاظ هم، نسخه کښې مصرعه په ورته امرې سمتې کړی
ل مطرېچې، ترکیب مصرع بې معنی کړی



○

عکس د ستا زما د سترګوله زنبار نه وځي
د زړه له کوره مې ښېلتون په یوګذار نه وځي

داستا کوڅې له زه د دوږخ ځان په خیال نه درځمه
چې تاو را تاو نشي د ستنې سوم نه تار نه وځي

اے شمع دو یه راشه نور دغه ضد ونه پرېږده
چې په مئین دې هره شپه د انتظار نه وځي

د ستا دعشق په سمندر کښې ې ژوندون چې نه ږي
چې په رښتیا خو سمندر وي د انکار نه وځي

شپې د اوښکو د خاطر پسې ایله زیاتې شوي
ښکاري د ستا د ځوانۍ اوږد شو بهار نه وځي

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

چې کتې در ته لا ډېره هجره نه شم
د ستا سترګې مې کوږې د زړه نه وځي
خدای دې هغه وخت را نه ولې شمه
چې مې ستا د دیدن شپې د زړه نه وځي
که د سترګو نه مې وځي د ستا سترګې
دې وېل که مې جګړې د زړه نه وځي
مودې پس سره یو ځای شو په محفل کښې
ستا بانه مې ښې نېزې د زړه نه وځي
جمع زړه له اشنا چې زه د ستا یم
چرته زلفې مې خورې د زړه نه وځي
د مخ لرې کړه پلو زه دې لوګې یم
چې مې ستا د مخ لمبې د زړه نه وځي
تر هغې به دې رقیبه زړګې وچوي
چې خاطر د معشوقې د زړه نه وځي

○

○

زړګیه تا وې چې درد ونه څه دی
دا په ګوګل کښې دې ترکونه څه دی
زړه په بنو مې وله څوک یې وینی
وهه وهه دا سترګکونه څه دی
بس خو که مخ دے نو ګلنامه دے ستا
دا د خورشید قمر مخونه څه دی
نه ده اسانه اشیانه مې د زړه
لا د ستم دې تندرونه څه دی
د ستا منزل دې دومره نور لرې شي
ګودر پرندو ته تیندګونه څه دی
که چې ذرې کا نور نو لا به بنه شي
ستا په فضا لا وسعتونه څه دی
چې مرور وی یو ساعت یې ګوره
چې وی پښلا نو بیا ګلونه څه دی
چې مرور یې پتېږدې څو نه شي
ما ته په غلا غلا دیدنونه څه دی
دا په خاطر ګلفامه ستا دشمنو
وی په خاطر دې پرهرونه څه دی

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

چې پښېمان نهٔ شې په بيا کښې څهٔ دی
پرېږده راوګوره په دا کښې څهٔ دی

زما په اوښکو کښې خندا ده وستا
ياره دستا په دې خندا کښې څهٔ دی

شمعې د نن شپې نه سبا جوړه
سبا به مړه وي په سبا کښې څهٔ دی

زړهٔ مې چې ستړے په ټوپونو کړلو
ګله دا ستا په دې ګړوا کښې څهٔ دی

خاطره تهٔ چې ماته نهٔ شې کتے
لږ ده مې پوه کړه چې په ما کښې څهٔ دی

ګله دستا د خندېدو شپې دی
زما د اوښکو د شېبو شپې دی

په دا لنډ تنګ وخت کښې مې حال وپوښته
دا مې د ژوند د تېرېدو شپې دی

په تا اختر اوس د ځوانۍ راغلے
دا تورې شپې د پسرلو شپې دی

د بخت سپوږمۍ ته به راخېژي کله
اوس مې د ژوند د محفلو شپې دی

دا نهٔ خاطر درنه تېښت کومه
د بېلتانهٔ دې نورې څو شپې دی

خاطر د وينو غړې غړې وکړلې
دا يې د ژوند د ختمېدو شپې دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



د ستا په غم کښې خوشحالي پټې دي
په دې زندان کښې ازادي پټې دي

زړه که ته څې نو لېوني خونړي يم
د مخ سره زلفې رسۍ پټې دي

په خوږو زلفو کښې راګوري په چل
په دې ځنګل کښې دې هوسۍ پټې دي

په کوم سترګو به بيا بيا درځمه
په اشارو کښې دې تېګۍ پټې دي

خاندي چې جوړې شول د نړۍ زخمونه
ايله په وينو يې خوږګي پټې دي

څه شو په خوله چې دې رخصت راکړو
ستا په نظر کښې تسلۍ پټې دي

په سرو سرو ګورم تورو سترګو ته دې
چې په کښې څه بلا مستۍ پټې دي

ستا له سينګاره مې خواني شه لوګې
ورې په خادو کښې خوانۍ پټې دي

د ستا په خيال زما خاطر شوايري
خو د اُميد په کښې سپرغۍ پټې دي



زما چې دا مدام دغه دلبر ته سترګې دی
نورې نه وينمه سترګې که هر چرته سترګې دی

له هره دره ودر تلې سترګې مې آشنا
که ورېږې دی که تږي خو دې در ته سترګې دی
نه تل را ته مرسېږه په دې عمر مه شه جوړه
زما خو هم ګلنامه دې پرهر ته سترګې دی
د مينې سمندره سترګې غرقې يې کړې تا
وتلي مي له تا کله بهر ته سترګې دی
په اوښکو مې کړه ستړه وړه وګړه ونه مې د عشق
که ګل يې د مخ رڼې خو ثمر ته سترګې دی
را وه چې خبري شه وړه په وخت سترګه د سبا
زما خو هم ختلې دې سحر ته سترګې دی

خاطره که خو غواړې نړه له تا د يار ديدن
نه نه شم ورکتلې زما نمر ته سترګې دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نن خو ما ته هسې بله دنیا ښکاري
تا چې نه وینم نو خله دنیا ښکاري

تنګ کوګل یې دنیاشي چې ته یادشې
بې تا تنګه لاکوګله دنیا ښکاري

بې له مانه هسې کله صحرا ښکاري
بې له تا نه هسې کله دنیا ښکاري

چې په هجر و وصال نه پوهېږې پوهېږم
داوستا ده که مې خپله دنیا ښکاري

هېڅ خاطر دې خزان و نه کړو خاطره
شګنګه خره او بې ګُله دنیا ښکاري



زړه مې که هر څو رانه هر څه غواړي
هیڅ نه دے خبر چې هر څه زړه غواړي

اے ماشومه زړه ته رانه ښه واخلې
مخه رانه غواړې چې ما نه غواړي
تل به بې پروا وې ګرنګونو نه
څوک چې خپل منزل ته رسېده غواړي
زړه او د نظر ځنې دې خلاص کړمه
نور دې لا ښایست راځنې څه غواړي
هر سبهے دستا د دیدن وې نه دے
راځو هم زړه غواړي هم لېمه غواړي
خبر نه دے که زهیر شوم ځان ته ګران شومه
بد هم په کېږي وی چې څوک یې ښه غواړي

خلق پرې تېر شوي له سرونو نه
ځله ورنه خاطر په تشه ځله غواړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زما زړهٔ او دستا سترګې سره پېږي[1]
نور به بد کا چې پهٔ دې منع کېږي ځائېږي

کهٔ خبر نهٔ راکوې خبر دے ښېرې مهٔ کړه
مئین زړهٔ مې ستا لهٔ مینې نهٔ صبرېږي

کهٔ دې غم پهٔ ما انبار وي پروا نشته
د ګلونو لاندې ځانګه نهٔ ماتېږي

چې مې ورتې اشنا وائي خفه شوې؟
زړهٔ مې ښهٔ شي پهٔ ګوګل کښې نهٔ ځائېږي

زهٔ خاطر داسې هېبت ستا د راتلو کړم
لکه پاڼه چې پهٔ ونه کښې رپېږي

[1] پوهېږي



ما وې نن به مې زړهٔ وچوي څو دردونه دي تېرېږي
ښېرې ده څهٔ کړې تپوسونه څو وختونه دي تېرېږي

جوړې تا اراده کړې د راتلو زما پهٔ لوري
نن مې سترګو ته د وړاندې مثالونه دي تېرېږي

جانانه زهٔ مې زغملے شم کهٔ وي د ستا د لاسه
هر څو کهٔ ستمونه طوفانونه دي تېرېږي

ستا د حسن پهٔ بهار کښې یاره نورې رنګینۍ شته
دغه[1] هر پهٔ خاطر باندې غمونه دي تېرېږي

[1] [illegible] پهٔ دیوان کښې دا لفظ نشته چې مصرعه ئې پهٔ معنیٰ کړې ده

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه چې پرې په ما زما د يار سره جوړيږي
خېر دے زما زړه د انتظار سره جوړيږي

کله په يو رنګ شي بيا سل ځل په بل انداز
سل ځلې ديدن د خپل خپل وار سره جوړيږي

ګوره واړه ښکله په سترګو کښې اقرار کا
بس خو د يار شونډو د انکار سره جوړيږي

څه په خاطر کېږي نن د بنګليو په صفت
هغه وخت راغلے دے چې دار سره جوړيږي



د وخت د ګذارونو چې داغونه نه جوړيږي
زما سره سپرليه ستا ګلونه نه جوړيږي

يو ځلې چې وران کړے ستا تصوير راله اشنا
غم مخې زما هغه فکرونه نه جوړيږي
راضي شه د يار غمه د دُنيا د غم سره
يو کور چې د ګډ زړه په کښې برجونه نه جوړيږي
اے زړه ته راته وائې چې يار راشي څه به کړو
لاځو به څنې وړاندې تعبيرونه نه جوړيږي
زه خو چې اشنا لا د پخوا نه لېونے وم
د عمر ليونو ته زنځيرونه نه جوړيږي
زه تا ته په قدم کښې او ته ما ته وېښ ولاړه
زما او ستا په منځ کښې پېغورونه نه جوړيږي

خاطره يو وېغ نه ده نن زړه جوړ او سباوران
چې ړنګ کوي غمونه هغه نړونه نه جوړيږي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نور به ایله څه د لیونو نه پاتې کیږی
ګونده یې یو ګړدې یې د پښو نه پاتې کیږی

زړه مې چې اشنا د ستا د تللو نه پاتې کیږی
خود به را ته غم د خوشحالو نه پاتې کیږی

پېغې مې د زړه د لمن ورژېدې لاړې
غم دې په کښې ډېر شو د نیرو نه پاتې کیږی

نه بلېده صبر او دمغ دې. دا مې زړه وه
ګونده چې به سکون د سرو لبو نه پاتې کیږی

تا چې په کړو وړو د عشق بوتلم زړګیه
څنګه سې لاړې د ړندو نه پاتې کیږی



وی به مې ګواه سبا دا سپین سپین دیوالونه
دغه تور لوګی چې د ډیوو نه پاتې کیږی

یاد مې د دنیا له یاده مخکښې مخکښې سړی
څنګه به د ستا د یادېدو نه پاتې کیږی

باده د بېلتون چې مې په لوړی بیا را نه شې
سترګې مې د یار د تماشې نه پاتې کیږی

زړه له مې دارو دی او کجل مې د بصر دی
خاورې یې خاطره چې د پښو نه پاتې کیږی[1]

بیا را غلله شپه او ځلند ستوری یار را نغی
بیا به مې خاطر نن د خوبو نه پاتې کیږی

۱ د دیوان کښې مصرع داسې ده: خاورې یې د یې جانانه چې د پښو نه پاتې کیږی

[illegible]

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

سترګې دې کړه برندې چې وختونه وارخطا شي
زلفې کړه پرېشانه چې ګردونه وارخطا شي
څو به کړې وعدې راته د شپې او د سبا
دېرې شپې وعدې کړه چې خوبونه وارخطا شي
نه درته له داره په محفل کښې کښېنه شم
سترګې چې راواړوې نو زړونه وارخطا شي
عقله چې یې وډینمه زلفې تار په تار
بس خو یو ګرېوان ته یې لاسونه وارخطا شي
دومره اے زړګیه ! ځان ته مه بنکلوه بنکلے
وبه چوې له واره که دردونه وارخطا شي
غله سره د مینې په محفل کښې چې یو ځای شي
زړونه وارخطا شي، چې رنګونه وارخطا شي
مل ئې کړه د زړه مې که په خوله نه بیانیږي
داسې ادا وکړه چې دا دونه وارخطا شي
څکه زه خاطر دې دومره وصف کړم اشنا
پرېږده چې د خلقو درته زړونه وارخطا شي

میاشتنۍ ژوندۍ پښتون اکتوبر ۱۹۵۹ع

په ارمان د نادانۍ شي چې هوښیار شي
خوشحالي او خوبې وړک شي غم یې کار شي

تخت و تاج او بادشاهي یې په کار نه وي
په ارمان د روغ صورت شي چې بیمار شي

په توبه باندې ډېر بد ښکاري چې زړه شي
ښکاري ښه چې په ځوانۍ کښې توبه کار شي

لېوني په کاڼو لګي ورته خاندي
د هوښیارو ځنکدن په یو ګذار شي

خپله غمه د یار غم یې لب مېلمه دے
تا به وکړم ده وار وکړه که دې وار شي

ته دې خپلې سترګې وګوره چې څه کا
د خاطر زړګے به څرنګه قرار شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ددې دنیا نه چې ګلان ورک شی
غنې د بلبل به په بوستان ورک شی

دا ته چې ژاړې ستا ژړا هیڅ نه ده
لکه دریاب کښې چې باران ورک شی

هر مره ې سود په لیونتوب نه کیږی
چې په منګل کښې ې ګریوان ورک شی

څو به لټومه ستا ورک شوی پلونه
چې د خاطر په کښې چشمان ورک شی



چې یې روڼ دے د لیمو په پیمانو شی
سو دې کله بیا د لب په بهانو شی

څو چې خدای راکړے نه وی نو به ژاړم
د خپېر فصلونه تل په بارانو شی
که د ستا په نوم بدنام یم پروا نشته
لیونی غونډونه تل په لیونو شی
زه د ستا لیونو ستر ګونه ډار نه کړم
که خویونه دې د سترګو لیونو شی[1]
هغه شپه چې ې د ستا زلفې په لاس ورې
دغه شپه د سپیلنی دوهاند بنو شی[1]

چې د زنې ګوډ ته دې ناڅې پروا مه کړه[2]
لے خاطره خاطر تل د مېلمنو شی

---

[1] که دا د دواړه شعرونه متن کښې نشته

[2] د دیوان خاطر کښې دا مصرعه داسې ده: چې د زنې ګوډ لره غله ودې سېږی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستا چې خوږې زلفې کونځې را تاو شي
زما د زړهٔ څنې رسۍ را تاو شي

پهٔ هره پړه لوپټه کښې تاو شي
لکه وږانه بړ بوکه را تاو شي

نهٔ به مې بیا کړې لېمې د غرونو
نهٔ به دا ستا سترګې هوسۍ را تاو شي

پهٔ زړ بوډۍ خوبه وانهٔ ښم لهٔ تا
نهٔ به خاطر ستا لهٔ څوانه را تاو شي



وړاندې به مې دا وې چې کا تهٔ به شي
اوس چې پهٔ ژوند پوره شوم وایم څهٔ به شي

وایم ستا بنو ته د زخمی زړهٔ نه
بس دے کهٔ وی داسې نو ساړهٔ به شي

نهٔ وم مهٔ لهٔ داسې جدائۍ خبر
ما وې پهٔ ساعت کښې تلهٔ راتلهٔ به شي

وې کړو تېروس چې را څه څهٔ غواړې
ما وې چې کهٔ راشې نو خرابهٔ به شي

ستا د حسن شمع او دا شوق زما
نهٔ یې پرېږدی دواړهٔ سره مړهٔ به شي

هر وخت چې ژړا کړې خندا نشته دے
زړهٔ خو د خاطر اوبهٔ اوبهٔ به شي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خزان لاړ شي بهار راشي ګلان خوشحاله شي
بلبل یې د چمن وي بوراګان خوشحاله شي

ټن خو مه راګوره مخ دې بل خوا واړوه
په پرده چې نا پوهه رقیبان خوشحاله شي

شمع چې بلیږي د محفل د پاره خاندي
زړه کښې داسې وایي چې عاشقان خوشحاله شي

راکړه جفا ګانې، ستمونه که غمونه وک
زړګے د خاطر وچوه خو چې خان خوشحاله شي



راشه په ګوټو کښې د جرګو خبرې نه شي
چرته چې په مونږ کښې د پردو خبرې نه شي

ډېرې شپې له راشه چې له یو بل نه خبر شو
یاره په یو شپه د ټولو شپو خبرې نه شي

وایمه له ځان سره چې دا به ورته وایمه
راچې شي آشنا په حو وصلو خبرې نه شي

زه او ته چې وو ینو له ورایه سره پوه شو
چا وې چې په سترګو کښې د زړو خبرې نه شي

یاره ستا د هجر اوږدو شپو شو ګیره کړے یم
ګوره چې مې اوس په اسویلو خبرې نه شي

خدای خبر خاطره زه به یا چرته ته به یا چرته
په پرده اوس په تلو کښې د راتلو خبرې نه شي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

دا ستا پهٔ سترګو کښې به څهٔ پاتې شي
رقيبه يار کهٔ ې پهٔ خُلهٔ پاتې شي

ستړے مزدور سحر وختې پاڅېږي
پهٔ شوګيرو مئين ووده پاتې شي

يو ځلې نيغ پهٔ دې لار تېر شه اَشنا
چې دې کاږهٔ واږهٔ کاتهٔ پاتې شي

افسوس چې ستا پهٔ خيال کښې څهٔ بنکاريږه
دغه ارمان به ې پهٔ زړهٔ پاتې شي

وستايه ډېر د يار تَـرا څهٔ خَاطره
چې پهٔ کتاب کښې دې خوابدهٔ پاتې شي

○



○

زړهٔ پهٔ دې نهٔ دے چې ناولے مخ دے
چې کوم يې خوښ شي هغه ښکلے مخ دے

مخونه ډېر دي خو دا مخ ې خوښ دے
واللّه يهٔ تهولو کښې و تلے مخ دے

پرېږده چې او ښکې ې بهيږي پهٔ مخ
دا بې ګناه جانان ر تلے مخ دے

څهٔ وشو تا کهٔ ديدن بند کړو پهٔ ما
خاطر پهٔ زړهٔ کښې ستا ساتلے مخ دے

○

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څوک چې ستا د ګرانې مینې طلبګار دے
هغه کله له غمونو نه وزګار دے

ستا سپنګار زما په سترګو کښې غمیزې
چې په کوم لورې نظر کړم بهار دے
د منصور خو هسې نوم دے په دنیا کښې
که یقین دې شي نو هر عاشق په دار دے
خندونې، تغیرونې چې دي ستا مینه
بس هم دغه دي خزان او هم بهار دے
د رقیب دې څه په مخکښې مخکښې کیږي
بس د ستا را باندې هر منت ګزار دے

که دې یار له سترګو ووتو خاطره
خپل غزل مخې ته ونیسه دا یار دے

———

میاشتنۍ غنچه پېښور

اګست ۱۹۶۰ ع



خوږ خوږې د مینې په ترخو کښې انتظار دے
ښکلې تماشه په تماشو کښې انتظار دے

ستا لنډو وعدو چې په ما خو هسې اوږدې کړې وې
بنده دے چې د ژوند په ورځو شپو کښې انتظار دے
مه کړه ضبطه مه چې راله اوښکې ورچې نه کړې
ورېږي دې د چا په دې شپو کښې انتظار دے
تا چې د وفا پلو په ما باندې ونه نیوه
ما ته څه د هجر په غمو کښې انتظار دے
لاړې د اُمید د زړګي شنې پاڼې مې وچې شوې
بیا درته سپرلیه په راتلو کښې انتظار دے
ما وې چې که نن نه وې سباله به دې خوبېنه شي
ږیږ مې درته کړے په اسرو کښې انتظار دے
کله به شي ستا د حُسن شمع راته بله
ګران راته د زلفو په تیارو کښې انتظار دے

ښه ده چې خاطر دې دومره مخ ته لا کتلي وو
ښکلیه ستا دیدن په سرو لمبو کښې انتظار دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خدایه څومره بې وفا زما دلبر دے
چې لۀ غمه یې زړۀ مې پۀ درد اختر دے

دهجران د لاسه شپه و روځ ژړیږمه
څکه داسې چې پۀ اوښکو ګریوان تر دے

یا خو زۀ ورته نظر کولے نۀ شم
یا خو دے وېر پۀ لېمو [illegible] نور دے

اوس چې سود پۀ بل بشر د زړګي نۀ شي
چې لیدلے یې د یار بنګلے بشر دے

تور بانړۀ د یار دغشو پۀ مثال دي
چې ویشتلے یې زما د زړګي سر دے

دریغه زۀ خاطر خوږوه پۀ سپل قصور کې
چې پۀ څۀ باندې زما نه مرور دے



ما وې ځان را ته اشنا د ستا پۀ څېر دے
دې وې ورورستو به ته پوه شې څۀ وایې څېر دے

دې وې زړۀ کۀ څیرې ستا زما پۀ زلفو
ما وې ستا هر یو کلپ ورته کاوشېر دے

دې وې زۀ یمه هرسیه پۀ مېړو رونه
ما وې زړۀ زما د لوړو غرونو شېر دے

دې وې بیا ته مخ بنګاره کړه کۀ پښتون یې
ما وې هر پښتون پخوا لۀ سره تېر دے

ما وې زۀ خاطر دې هر وخت یم پۀ طمع
دې وې را شه دلته کښېنه غم چې ډېر دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شاید چې حُسن د اشنا ې دلبر نه ډک دے
د زړهٔ جهان ې د لوګو د اسویلو نه ډک دے
خوږنه ې ستا په بېړغ غشو ده ویشتنه د زړهٔ
ګنی وطن خو مې یاره د ازغو نه ډک دے
د ستا نصیب شه خوشحاله د بې غمۍ خوبونه
زما د خوار غریب نصیب د شوګیرو نه ډک دے
نن مې مخ ته مې لهٔ ورایه نا خبر کتلی
نن را ته څکه دا جهان د پلوشو نه ډک دے
راشه ګلونه ګوره هلته دې په صحرا کښې زما
چې تیول چمن زما د اوښکو د شبنم نه ډک دے
دا حسرتونه دا غمونه تنګ ګوګل زړه کښې
لهٔ دې خو ګوره بنهٔ دے هر څو کهٔ د تیارو نه ډک دے
زړهٔ مې یوه د لیونتوب په کښې سودا کړله
بازار د حُسن خو لهٔ ډېرو تماشو نه ډک دے
همدمه مهٔ را یادوه دا تېرې هېرې قصې
زما زړهٔ ګے خو مختښے لا د ګیلو نه ډک دے
زما خاطر پې لهٔ شکونو لهٔ فکرونو ډک کړو
د مخ کتاب دې را له راوړه د قیصو نه ډک دے



تک تور سوے د ستا سوے ور د بل دے
چې دې اور د بنګلې مخ ترې لاندې بل دے

چې څو څُم په مخکښې لا منزل زیاتېږی
اشنا ستا د دې منزل څنګه منزل دے

چې ې شک په ګومه لاړ دے سودائي شوم
نو زړه مې هېڅ موندلے نهٔ دے خو ستا پل دے

چې اشنا دې په کښې اوسی اے خاطره
خیبر وګڼه حرم کهٔ خو شړل دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوږمه ږېږي پهٔ زړګی باندې چې غم دے
د آشنا سود به پرې نهٔ شي وائي کم دے

زهٔ چې مستې پرېشان او سرګردان یم
مرېږ غم یې لکه زُلفې پېچ وخم دے
د هجران د لاسه شب و روز ژړېږم
راشه یو وارې پهٔ سترګو مې تور تم دے
هغه خاوره مې دارو ده کهٔ چا راوړه
پهٔ کوم ځاې باندې یې ایښے چې قدم دے
ټول عالم یې وېرصفت د سخاوت کا
ګیله څهٔ کړم چې دا خپل نصیب مې کم دے
زهٔ خوشحاله مستې شومه پهٔ خندل یې
خلقه ما او پهٔ جانان کښې کوم یو کم دے
چې دلبرې پهٔ ژړا پورې نن خاندی
نن مې شوے مې د سترګو کله نم دے

حکیمانو له مهٔ درومه خاطره
د یار شونډې دې پرهر له مرهم دے

ستا پهٔ انتظار کښې ماتهٔ کال څهٔ دے
دومره لا ماندهٔ نهٔ یم ستا خیال څهٔ دے

سوزی هم هغه چې پرې بلېږي اور
خاندهٔ لے آشنا تا ته دُغال څهٔ دے

تا کهٔ پهٔ شالهٔ کښې پټه ولیدم
بیا به داسې واې چې مشال څهٔ دے

زهٔ دې مرېږ غم د زړګی داغ کړم
ماته لا د ستا پهٔ جبین خال څهٔ دے

ما خو درته وېل وېرېږه مهٔ کوره
وکوره خاطره اوس دې حال څهٔ دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې نن هم مې ستا په تور دے په بل تور مې پېرزو نه دے
نظر چې ستا په لور کړم په بل لور مې پېرزو نه دے

اے مجره چې مې وران نه کړې دا د زړګي خونه
ارمان په کښې د يار کړمه په کور مې پېرزو نه دے

دا نه چې صبر بنا پست باندې شېدا دے زما زړه
د ستا په مخ دې سوزې خوږه او دې مې پېرزو نه دے

په غېر ستا د محفل ځني يې نه شي ځه ګذران
در درو يه خاطر خوږه پېغور مې پېرزو نه دے

چې لب نظر مې د بصر پاتې دے
جوړ ې منزل ته وړې سفر پاتې دے

شپه که اوږده د خوږو زلفو ده څو
وار دې د سپين مخ د سحر پاتې دے
ناردې د مينې د لمبو ځنې زړه
لا مې په مينه کښې څيګر پاتې دے
تېرس د شپې وکړه که وکړې يقين
ستا انتظار را نه سحر پاتې دے
د انتظار ډېرې چې تته نه شي
اوس خو شپه تېره شوه سحر پاتې دے
ما خو د ستا په سر وطن کښلو
خبر شه اوس را نه خبر پاتې دے
نه او انکار له تا په کوم سترګو
لا مې د تن د پاسه سر پاتې دے

نه د دربار په خُله رخصت څکه شم
د يار خاطره چې خبر پاتې دے

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



سترګو دې چل چې د خندا زده کړے
سترګې زما چل د ژړا زده کړے

په لنډو پلوشو به يې څنګه خمه
ما خو تل تګ چې د صحرا زده کړے

ن دې وته وې په وعده کښې راته
صره وعده کښې دې سبا زده کړے

خاطره طمع د وفا مه کړه
اشنا خو يو چل د جفا زده کړے



د خان سپنګار ولو کښې مسکې وې ما ليدې
زما د زړه په سولو کښې مسکې وې ما ليدې

پرون مې څه پرواه ستا په ګذاب نه وه صنم
زما په زړه ويشتلو کښې مسکې وې ما ليدې

شاهد چې وه د رياده حيرانتيا مې هغه وخت
ائين ته په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

خفه يمه په دا که بنه يې ستا له سپي کړم
رقيب ته په ويلو کښې مسکې وې ما ليدې

لبان دې لکه پاڼې انګې وې سره ګلونه
سحر چې ته په ګلو کښې مسکې وې ما ليدې

خبرې په غصه کښې کېنې هم د چا خاطره
اشنا چې په کتلو کښې مسکې وې ما ليدې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اشنا مي نن ليدهٔ تېرې وعدې را يادېږي
دا وصل کهٔ هجران دهٔ، چې ګيلې را يادېږي

بس دهٔ مې ستا ارمان پهٔ زړهٔ کښې نور خدا دې
دا نهٔ چې ماته نورې مرحلې را يادېږي
منم چې فراقجن به نور سبا دا يادېږي
لهٔ ما چې اشنا لاړهٔ ماته شپې را يادېږي
کهٔ هرڅو شرې، نن ياد له چې هېر دې نشم بنهٔ
پخوا مې لا پهٔ زړهٔ کښې اوسېدې را يادېږي
وم دومره لېونے ستا د پرېشانو زلفو نهٔ
چې چرته خو به خاورې بادېږي را يادېږي
زما د زړګي ياد شي د مخکې نظر سره
پهٔ هيڅ نهٔ هېرېدلې هم راسې را يادېږي
دا نهٔ چې اُس چشمه اوس يې غټې ستا يمهٔ
د ستا خمارې سترګې لا نورې را يادېږي

بېګا چې شمع روېه هرڅهٔ هېر وهٔ د خاطر
د ستا د محفل ښکلې تماشې را يادېږي

لهٔ مصرع بې معنیٰ ده

[illegible]

زما د اُميدونو ورځې شپې وغزېږي
هر څو ستا د منزل کهٔ مرحلې وغزېږي

اوس چرته تر ښه لاړ شم لېونے چې کړه يار
هر ځاې کښې يې د زلفو زولنې وغزېږي

نمر مخيه اوس دې سپي لاړې ماته کړه کړه ګې
نظر کهٔ ستا د مخ پرې پلوشې وغزېږي

چا هسې راسې بېغې چې خاطر کړو يار ګلاد
پهٔ دې د رقيبانو جنازې وغزېږي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ښکلې وې ، وخندېدې شونډې
خود به د سترګو خوښېدې شونډې

دا ته چې لاړې شونډو ښغ ونه وې
بس که په تا به يادېدې شونډې

سترګو له زه که قسمونه ورکړم
زړګيه ته کله پرېږدې شونډې

شول جوابونه د خاطر نه خطا
په کشمکش کښې رپېدې شونډې



پوه شومه په دې چې په کنځل کښې څنګه ښکارې
وخانده يو ځل چې په خندل کښې څنګه ښکارې

ستا د تصور په يو جونګړه کښې اوسېږمه
ته خو راته وايه په محل کښې څنګه ښکارې

څومره به په باغ کښې ته په غوټو وې خپل ځان ته
ګله د آشنا په سره منګل کښې څنګه ښکارې

سترګې يې په ما کښې دي چې ګورمه هر چا ته
نن راته اے شمعې په محفل کښې څنګه ښکارې

تا به په آئين کښې ځان ليدلے په يو رنګ وي
راشه د خاطر په هر غزل کښې څنګه ښکارې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اے ګله! چې ستا ټوکې د خندا نه سترګې لاړې
نو خود مې لرې برېښې د ژړا نه سترګې لاړې

نرګیه! پس له دې به يې د ستا په سترګو کوم
نظر مې وه اشنا، چې لاړ، زمانه سترګې لاړې
هم دا دې بد ګه شوه مه کړه پار له راهزنانو
اے ګله! د دوستو وهاندې مې له تا نه سترګې لاړې
ما وې چې که ورګورې نو اوس بيا مخ پټوې
نو کوزې مې ګرېوان ته له حيا نه سترګې لاړې
بلبل ته په کاته شو او په نهونو زلزلې وې
محفل ته چې ته راغلې د هر چا نه سترګې لاړې
لړ را شه شمع رویه! لرې وګوره چې څه شوم
د ستا په تماشا کښې مې له ځانه سترګې لاړې

نو څه شو که مرې د خاطر سترګې په تا نه شوې
چې وهرې داسې وينې له دنيا نه سترګې لاړې

میاشتنۍ، قند، مردان

(غزل نمبر) جولائی، اګست ۱۹۸۹ع

که دې دا زلفې په لاس راغلې اشنا بيا به څه کړې
که نه عادت له دې بلا سره شم بيا به څه کړې

در ته کښته نه شم حیران یم د اشنا سینګاره
تا مې چې داسې په اشنا وکړل په ما به څه کړې

څوک به بښېږي او دا د تنه تل ته ماته کړې
چې يې پېرزو نه وي دعا هغه اشنا به څه کړې

چې څه يې وکړل هغه يې تړل وکړل په تا خاطره
دا به چې تاله په لاس راشي په اشنا به څه کړې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



په پره خوشحالی بنه نهٔ ده بیا رانه هېرېږي
کله کله غم راګوره تل چې ئې یادېږي

زهٔ دې يم لمګے پېښېدے نهٔ شي رانه شمي
خدايږو د دنيا نه پهٔ تيارو کښې بنه بنکارېږي

ماته د اشنا د وعدې هر يو ځاې اشنا دے
اے وبه نظره ته پهٔ هيڅ هم نهٔ هېرېږي

ستا به د خاطر نه وی پهٔ زړهٔ کښې څهٔ تېر شوی
دومره بې پروا يې چې پهٔ مخ کښې مې تېرېږي

---

لـه ۔ [illegible] ديوان خاطر [illegible]



لکه مجنون غونډې ګرځم پهٔ بيابان در پسې
وايم پهٔ خُلهٔ ليلیٰ ليلیٰ څيرې ګرېوان در پسې

نهٔ شوم خبر نهٔ د وصال لهٔ خوشحالې نه چرې
لکه وحشی ګرمه غمونو د هجران در پسې

نهٔ دې اشنا يم نهٔ چې بيا راته آشنا ووائې
پروا ئې نشته دے پهٔ تا نهٔ ګرم خفګان در پسې

چې ته بيا نهٔ وائې پهٔ ما چې ته شيدا نهٔ يې ته
کله د کمرو چې ګذار نهٔ ګړه خپل ځان در پسې

پهٔ حال خبر شه چې نن دې را نهٔ شي خواله زما
چرې پهٔ لاس ګرځي خاطره رقيبان در پسې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

راشه اے ماهِ تابان په توره شپه کښې
یم تر زلفو پرېشان په توره شپه کښې

له تکړو یې پروا یم ستا په عشق کښې
لکه بحر یم روان په توره شپه کښې

په خندا مې ستا قسم وی شمع بدیه
څو به کړمه دا ګریان په توره شپه کښې

زه خاطر د ستا د زلفو نه ځار نه کړم
مالیدلی دی ماران په توره شپه کښې

○



چې د سترګو دی ښکار زنې زما سترګې
چې یې نه شی کړے پوښتنې زما سترګې

زړه کچکول کړمه د اوښکو په زنځیر کښې
چې درکوم شی نمڅنې زما سترګې

مرګ ژوندون دے لبِ راکوه د زړه سره
در نه غواړی جوهر بخښنې زما سترګې

د هرچا دې دیدنونه مبارک شی
وینې ستا د پېرزوینې زما سترګې

په ژړا باندې خوښ نه شی چې زه ژاړم
وکړې ستا د دربلسنې زما سترګې

ستا د سترګو کړی خاطر چې نه درکوی
هسې نه چې دی پارنې زما سترګې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



○

خوړ د هرې یوې کوڅې شوې زما سترګې
چې د ستا سترګو ته غلې شوې زما سترګې

ستا منزل ته به د زړهٔ په سترګو رسم
په تلو تلو کښې مرحلې شوې زما سترګې
څهٔ زوخونه پرې د ګرمو اوښکو اوړی
په ژړا د غم پېغې شوې زما سترګې
چې سبا بېګا یې ستا په در کښې نیسم
خوړ د هرې یوې نامې شوې زما سترګې
بیا مې هغه خپلې سترګې خپلې نهٔ کړې
چې لهٔ ځانه نه په دې شوې زما سترګې
اوس په دم کښې د یار زر ځل دیدن غواړي
د اول نه ډېرې ښې شوې زما سترګې

نهٔ خاطر به په ترخو زړهٔ اوس عادت کړم
چې په تا باندې خوږې شوې زما سترګې

---

میاشتنۍ «غنچه» ستمبر ۱۹۶۰ ع

○

د ستا چې نهٔ وینم دا تورې سترګې
پهٔ کار مې نهٔ دی دا راپورې سترګې

نهٔ به یې د بل سترګو ته پورته نهٔ کړم
د ستا پهٔ پل مې دی نسکورې سترګې

ساقي د ستا پیمانه څهٔ کومه
چې د اشنا مې دی مېخورې سترګې

خاطره ژاړه لهٔ هجرانه سره
پهٔ تصور کښې خو یې ګورې سترګې

○

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



څه وشوې چې ستړګې مې په تا باندې خوږې شولې
چا ته پورته نه شوې چې دستا په لور کږې شولې

ګوره دا ګریوان مې چې وحشت څنګه تار تار کړلو
نه شلیږي دستا د زلفو څرنګه حلقې شولې

ما خو هو څول چې دستا خُله ډېره آسانه ده
ګرانه شوله څکه دومره خُلې چې راپسې شولې

اوس هم ستا د مینې افسانه زما په شونډو ده
څو دې افسانې مې په زړګوتي کښې ورستې شولې

ستړګې د خاطر که ستا په ستړګو تېروتلې دي
ګوره مه دا بدې که زما په حقله ښې شولې

تا به کتو غل چرته خاطره د ورک شوي زړه
نه ګورې چې تا ته داشنا ستړګې بس غلې شولې



چې اشارې کړې ایسار به یم ولې
چې پښیمان یې تیار به یم ولې

په یو ساعت کښې مې بیا بیا ژړوې
چې اوس ژړیږم قرار به یم ولې

دریغه چې مړ دې د ستم نه وې زه
چې نه مړ کیږم آزار به یم ولې

نور به دې څه وکړي بانه په خاطر
توله دې پرهر کړمه ویریږم ولې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



اوښکې نه کمېږي څوړا ماتې شوې
تا چې خندا وکړه نو دانې ياقې شوې

څوځلې د اوښکو سره درغلم
دا څنګه جرګې او ننواتې شوې

څو به ګورې ستا سترګې نماستې
لرې دې وې خبرې دے هو چې نياقې شوې

تا چې د خاطر سره څه کړې دي
خبرې دے اشنا داې درته پاتې شوې

---



ته به په زړه کښې ماله څه راکوې
که راکوې ماله به زړه راکوې

منع به نه شم ستا له دره ځنې
په دې دې نه يم که څه نه راکوې
څه لوې اختر دې د ځوانۍ تېر کړلو
ته به لاسونه ماته بنه راکوې
داسې چل وکړه چې ډېر ودود هېرېم
سبا به بنګليه يو لمبه راکـــه
دا خوشحالي به ماته څوک راکوي
چې ټول غمونه راله ته راکوې
چې پروند او ګوره دې کړم نو ماله به شوم
اوس څو به هر څه په کاله راکوې

ضد له خاطره سره مه کوه ته
که يې اوان راله په خوله راکوې

---

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تهٔ ما ستا بلې یو پهٔ سله نهٔ یې
دا تهٔ زما پهٔ وینا څله نهٔ یې

کهٔ څوک خپل ځان درته ذرې ذرې کا
خپله کوې تهٔ د چا خپله نهٔ یې

دا تهٔ خو چرته یې چې نهٔ یې نهٔ یې
هر وخت زما سره تهٔ څله نهٔ یې

خاطر به هم پهٔ تا اعتبار کوي لا
تهٔ خو هم هغه یې څهٔ بله نهٔ یې

هر څوک کهٔ چې د زړهٔ قرارولو له راځي
پوهېږم ولې نهٔ چې قتلولو له راځي

بلبل کړې د ګل وصف کهٔ بهار وي کهٔ خزان
بورا تهٔ خو یې بس یو بنګلولو له راځي

غمونه د اشنا زهٔ اوس پهٔ هېڅ نهٔ هېروم
اے غمه د دنیا کهٔ هېرولو له راځي

ارمانه د اشنا شه د اشنا سره مېشته
چې زړهٔ ته د خاطر ازارولو له راځي

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



داسې راته ګورې لکه ته چې راته ګورې
نغ مې لهٔ نږکی وُفُ کابهٔ چې راته ګورې

کله چې د زلفو ورېځ لرې کړې لهٔ مخه
شی دې پلوشې بنکلی بانهٔ چې راته ګورې

هغه وخت لب وېر وک ته چې مخ راځنې پټ کړې
داسې معلومېږی لکه بنهٔ چې راته ګورې

تهٔ زما د زړهٔ نه دخپل حُسن تپوس وکړه
زهٔ به درته ووايمه څهٔ چې راته ګورې

نن خو مې خاطر وکړه چې مهٔ راته راګوره
زهٔ درته کتے نهٔ شمه تهٔ چې راته ګورې

سندرې

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


اوس را نه هيڅ نه شي خطا ده
له هر څه هر څه وو تــمه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تا مئينېدمه

نه در نه خنګه هېرېدمه     خپلو وعدو نه وشرمېږه
تاچې خندل نه ژړېدمه     له هغو شپو نه وشرمېږه
هېره زما تر له دنيـا ده
شام و سحر دې يادومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تـا مئينېدمه

غر په غر نه ورځې صحه     چې وي ګرځېدلې لغر به راشي
در ته په زړه ګنې به يې ساته     پرېږده چې مړه بنه په جفا شي
زما په ستر ګو کښې حيا ده
نه يې په څــه دروا ړومه
ګرانه اشنا دا مې سزا ده
نه چې په تـا مئينېدمــه



تل به په هر چا دا سې کېږي     په دا سې خلقو چې اعتبار کا
له خپله ځانه چې خبر نېږي ئـ     له ګټ نګړ به يې ګــذار کا
د ښــکلو مينه بې وفـــا ده
نه به يې څه در تــه ستايمه
ګرانه اشـنا دا مې ســـزا ده
نه چې په تـــا مئينېدمــــه

خاطر خرمه وے در کړلی     اوس يې ژړوندون اختيار دی
هغه چې تا در ته خندلی     نن يې د نورو چې خندا تور دے
زما د زړه خوښه ژړا ده
ځکه يې نه قـــرار ومــه
ګرانه اشنا دا مې ســـزا ده
نه چې په تا مئيــنېدمه

د دواړو ځايه د (لګ) په ځاى (د) ليکل شوي دے

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې مې سترګې دیدن د اشنا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

نهٔ به څهٔ کړم ګریبان چې یار راکړه ګل
پهٔ زخمونو ملهم به کیږدی د ګوګل

مسې مسې مې یار خندا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

ایله زُلفې یې اوس غُنچې ته جوړې شوې
دواړه شونډې یې خندېدو ته جوړې شوې

مل به څنګه زما سودا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دنیا نهٔ کا

د ستا مخ ته زما نظر ورسېدو
هغه اور مې سر تر تل تر څیګر ورسېدهٔ

بې لهٔ سوزه خو څوک ژړا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

اے خاطره ګیلې د خپل یاره مهٔ کړه
ته طمع د دل اراده مهٔ کړه

اے شباب خاطر دهیچا نهٔ کا
زړهٔ مې غم د نورې دُنیا نهٔ کا

شوې د زړهٔ سترګې سپینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

لبا نو ستا نهٔ د ښامار پهٔ شان خوږلے یمه
نهٔ دې د سترګو پهٔ ښو باندې ویشتلے یمه
څهٔ مې لهٔ خُلې نه تورې وینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

پهٔ دې هجران کښې به تر څو پورې کړېږمه زهٔ
شام او سحر لکه ماشوم غوندې ژړېږمه زهٔ
اوښکې مې څې پهٔ مخ رنګینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې اشنا تا پسې

چې ته کوې پهٔ ما ظلمونه را ته پېغور دے صنمه
خاطر کوی در ته سوالونه پهٔ زړهٔ یې زور دے صنمه
وهم رباب څکه د مینې اشنا تا پسې
راشه کهٔ یې وینې آشنا تا پسې

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com
Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



نهٔ ومه خبره زهٔ، تاچې زړهٔ بابُلبلے دے
تا ووې ربېار ته پس لهٔ دې به څو راځي
خبر دے کهٔ تش تورې دې پرون زړگے شړلے
خيال يې وهٔ سنگار ته پس لهٔ دې به څو راځي

وبنا يه څيگر راته — اوس د زړگي سر راته
وايه د بېنو غشو پهٔ کوم کوم ځاې ويشتلے دے
لاس کښې آئينه يې وه — کړې چې کينه يې وه
ماکتل رخسار ته پس لهٔ دې به څو راځي

څنگه مړې در شمه — پهٔ حال دې چې خبر شمه
لاس کښې دې رقيب راته ډک تورې پک نيولے دے
يو ځلې در غلے وم — وهلې دې زغلولے وم
غلے وم ديدار ته پس لهٔ دې به څو راځي

ما چې کوم ستم کړے — اوس يې پهٔ تاکم کړے
دا دخوانئ ولړ پهٔ ما نن سبا راغلے دے
شو خاطر غلام دستا — کړې به تل سلام دستا
پرې يې بنده دربار ته پس لهٔ دې به څو راځي

نن خو را ته مهٔ وايه چې نا — تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا — تر سبا
وو وايه اشنا راته، تهٔ زما تعبير نهٔ يې
وې چې تل پهٔ خيال کښې يې تهٔ صفه تصوير نهٔ يې
بله راته ښکاري را دُنيا — تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا — تر سبا
راکړه ساقي داسې مئې چې شي زما اوستا نشه
هم پرې د جوبتيا نشه هم پرې د دنيا نشه
جام د لبو راکړه پهٔ بيا بيا — تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا — تر سبا
نن خو دې را جمع څهٔ پهٔ مُشيو کښې کېفونه دي
ستر گو پيمانو کښې دې رنگ پهٔ رنگ ستونه دي
گلې دخاطر شه پهٔ ربښتيا — تر سبا
سو دې ساقي نهٔ شي پهٔ مينا — تر سبا

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



طلب کړم صنم چم په چم
لوند مې کړیوان دے خاڅي مې نم

مینه وفا دې نشته
په چا پروا دې نشته
ورته له چا دې نشته

کوه ستم طلب کړم صنم
رنګ مې تک تور صنمه
سوے په اور صنمه
کومه شور صنمه

وکړه کرم طلب کړم صنم
مینه بهار دے دستا
چمن ګلزار دے دستا
خاطر ماليار دے دستا

دګل په چم طلب کړم صنم

۱ منزل‌اند اړ دیوان کښې مصرع داسې ده چم په چم طلب کړم صنم



چې ستړګې نه وباسي، زما او ستانه
راځه چې درو مو دواړه، له دې دنیانه

زما او ستا دلته څه دی، خوږه مینه
داخو هر چرته کیږی، چې داسې وینه
ځان له به جوړ کړو بوستان، په بیابانه
راځه چې درو مو دواړه، له دې دنیانه

څو به په وړه سره، دیدن په غلا کړو
په انتظار کښې سره، بېګا سبا کړو
ته شه له زلفو تېره، نه له کړیوانه
راځه چې درو مو دواړه، له دې دنیانه

داړک د مینې زړونه، به دواړه یوسو
څه چې ځنګل ته لاړ شو، هلته به اوسو
یو دې چار ګل په پونره بل دې پیزوانه
راځه چې درو مو دواړه، له دې دنیانه

دا مې په خوا خاطر کښې، نه وو صنمه
چې زه خاطر به شمه، په خاطر جمعه
ځکه چې ستا له غمه، ورېم پریشانه
راځه چې درو مو دواړه، له دې دنیانه

۱ منزل‌اند اړ دیوان کښې (د) ده

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

د سږ نه کال ته وېر غمونه

لۀ داسې ژوند نه مرګ به ښۀ وي راځي شپېنه

الله دې خېر کړي

ستا د ماښو فريادونه

هېر به مې نۀ شي

لکه د زانې قطارونه

هېر به مې نۀ شي

پاس پۀ اسمان کښې جهانونو سره ځينه

الله دې خېر کړي

د پښتنو فقيره ژونده

خندګه به تېر شي

تېر خو به شي پۀ لوږه تنده

خندګه به تېر شي

پۀ مصيبت به دې څوک سر ته رسوينه

الله دې خېر کړي

نوم د پښتو راځي هېر شي

څوک مې يادېږي

غم د هغو ځای راسره پېر شي

څوک مې يادېږي

څوک چې د قام او د ادب خدمت کوينه

الله دې خېر کړي

خاطره هغه خلق ستا يه

پۀ خپل کتاب کښې

تل پۀ بار بار د غسې وايه

پۀ خپل کتاب کښې

چا چې سر ورنه پۀ وطن ورکړی دينه

الله دې خېر کړي

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



شوګیرې توږلې په سباسبا کښې تیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
ستا د بنا ښسته سترګو د پاره       فکروه مانه ښکلیه یاره
څو مره لیږې پر په نیږګوتي باندې تیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
د خداې د پاره بس کړاشه       که مرورد یې را خلاشه
ستا د راتلو په انتظار یې سترګې سترې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
دا ته چې لاړې د بل چا شوې       زما د زړه څخه جدا شوې
زما دا ستړې شوګیرې دې توږلې هیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو
خاطره زه ځان ته حیرانه یمه       که لیږ راګوري بس روانه یمه
د پیغلتوب ملګرې توږلې دا نه ګیرې شولې
پرېږده چې وژاړم په چغو چغو

د قافیه درسته نه ده



واوره صنم زړه مې نه شي له تا نه
ویلې نه شم زه څه له حیا نه

دغه ستا د مینې درد و نه ښه دی په ما
زړه مې د ستا د پاره واڼي چې وی دي په ما
واوره صنم

په کومه لاره ښکلیه چې قدمونه کیږدي
زه به د مینې په زړه باندې داغونه کیږدي
واوره صنم

زړه مې له خپله کوره تښتي چې راشې صنم
خاطر به هر کران دے په ما چې په خنداشي صنم
واوره صنم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

پهٔ تش دیدن باندې یې رو رو مشغولېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

لهٔ هرڅا پټه پټه ستا یارانه به کړمه
تا له چې در شمه زهٔ ځهٔ بهانه به کړمه
پهٔ انتظار کښې یې لهٔ ځان سره ژړېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

کړم دا وعده درسره چې تا به هېر نهٔ کړمه
یو ساعت یې لهٔ تا به پهٔ نور ځهٔ تېر نهٔ کړمه
پهٔ دې سودا یې ودهٔ کېږه راوېښېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

نښه د ستا او زما ، ماهٔ تابان شو سره
بل یې کاروان د ستورو پهٔ کهکشان شو سره
د سبائی د خیال خوبونو کښې ښکېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

خان ته دا ټوله دُنیا خاطره ما وګڼه
پهٔ کښې یې مخ او زُلفې بېګا سبا وګڼه
د زړهٔ پهٔ مینه یې پهٔ سترګو کښې اوسېږه
ځم مهٔ خفه کېږه بله ورځ به راشم

ـ ګله په دیوان او مشاعره کښې (د) دے



تهٔ چې پهٔ مرګ زما رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې
ستا رضا ده چې داسې ژړېږم
پهٔ عالم کښې داسې ګرځېږم
پهٔ محبت کې نا رضا یې
ما ته قبوله دلربا یې

عاشقي وه پېدا لهٔ اوره
لرې زما سوی زړهٔ ته وګوره
جوړ پهٔ معنیٰ قیمت بها یې
ما ته قبوله دلربا یې

خاطر ته ګوره داسې حېران دے
پهٔ محبت کښې ستا بندیوان دے
یې کبرجنه یې دنیا یې
ما ته قبوله دلربا یې

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



خوښه دې شوه وله زماداشنا مینه
اے زړه غمګینه

اے زړهٔ ذرې شه
خاورې ایرې شه
ځې د ستړګو د زړګی وینه
اے زړهٔ غمګینه

راشه کهٔ وینې
د زړګی وینې
د یار پهٔ غم کښې چې دوی راځینه
اے زړهٔ غمګینه

خاطره داشپې
تا نه جدا شپې
چرې د وصال شپې د یارکه دینه
اے زړهٔ غمګینه

اوس به وطن د سرو ګلونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
ځهٔ به د ښکلو نګهتونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
بلبله ستا د تماشو ورځې دی
راشه هم دا دې د نغمو ورځې دی
نه چې لاهغه د ازغو ورځې دی
ځان کړه پهٔ خود اوس د ګلو ورځې دی
راشه چې ژوند دې د کېفونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو
اوس به تول بوټی سره ځان وښائی
څوک به ګلې، څوک به ګلان وښائی
لاله به هم ښیرې ګرېوان وښائی
هم به بلبل شور و فغان وښائی
اوس به ښاخونه د رنګونو ډک شی
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


جونه به ولونه د وربل جوړوي
په کښې ځايونه به د ګل جوړوي
سرې سرې غنچې به منګل جوړوي
په آئينو کښې به کاګل جوړوي
دغه جهان به له نازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

ښکلي ځلمي به په شملو کښې بندي ګل
اوس خو به جونه په کمڅو کښې بندي ګل
پېر ارمانونه به په زړو کښې بندي ګل
څوک به د زړه په پرهرو کښې بندي ګل
داسې به زړونه په داغونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

زه کوم ټيټا د چا خندا نه وينم
چې مې ليده هغه رڼا نه وينم
ګل د رخسار چې د اشنا نه وينم
زه نور ګلونه د دُنيا نه وينم
څو که جهان له ديدنونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

د ارمانونو لوے جهان رڑوي
زړه په کوګل کښې مې جانان رڑوي
د مينې ګل را نه هجران رڑوي
ته کړې خاطر دغه بوستان رڑوي
د مخ کتاب دې د رازونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

څه به د ښکلو نګهتونو ډک شي
راغے سپرلے وار د خزان تېر شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



زړګي مې غواړي شمع روڼه سوزېدل
راشه یو ځل

ارمان مې دا دے که پوره شي
د رنځ دارو مې د اشنا سره لیدل
راشه یو ځل

څو به شوګیر کړم راته وایه
واړه څو بونه راشنې وتښتېدل
راشه یو ځل

که دیدن کړې تلوار را وکړه
همزولې راغلې خوروې مې تور وېبل
راشه یو ځل

عاشقان ګوره حال یې څهٔ شو
لکه پتنګ چې په لمبو وسوزېدل
راشه یو ځل

سوال د خاطر منظور کړه یاره
جفا دې پرېږده د وفا وکړه کتل
راشه یو ځل



ښ دې وربل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ     اور را ته بل دے

د ژوند کاروان مې دے د غم څپو کښې ډوبېږي
واوره فریاد مې د جرس په اوازونو کښې
تلے دې پل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ اور راته بل دے

ترڅو د هجر دا اوږدې شپې او تیارې به وینم
سبا د وصل به وی لرې که نږدې به وینم
د ستا منزل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نه     اور را ته بل دے

خاطره ښ دې کهٔ لږ سم را ته کتلی وے
واړه ښاپسته به دې لهٔ نږه ځنې وتلی وے
د کتو چل په کوم پلو دے
بیا به سوزېږمه نهٔ     اور راته بل دے

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



ستړې نيولې دې ما ستا په رخسار کښې
او به او به شول توري مې په خُمبار کښې

ما چې ليدلے ، ستا پښو کښې پل دے
غم د وحشت ، وحشت راسره مل دے
او س مشغولا کوم په دغه لار کښې
او به او به شول توري مې په خُمبار کښې

نه در رسيږې نه در ته غږ شي
نه را ته خُمب شي نه را نه شي
دا څه ژوندون دے په انتظار کښې
او به او به شول توري، مې په خُمبار کښې

يار يې له بنګلو سره روان دے
دې تماشې ته خاطر حيران دے
تکه سپوږمۍ وې ، ستورو قطار کښې
او به او به شول توري مې په خُمبار کښې



زما په طمع به کړې تېرې وختونه
زه دې يار نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم

ما ته را ياد نه دې څوک زه په ځان کښې يمه
په نړۍ غم نه لرم په خوشحالۍ کښې يمه
زه ليونے يم چې کوم دومره فکرونه
زه دې يار نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم

ليونۍ نه يمه چې، د غم سودا کومه
په تا دې اوس بلېږې زه څه پروا کومه ۱
چې بيا مينو لې راته نه کا پېغورونه
زه دې يار نه يم دومره وزګاره نه يم
چې درته کوم

---

۱ متن له دغه لاندې کښې دواړه مصرعې داسې دي :
ليونۍ نه يم چې دا سودا کوم — په تا دې اور بلېږې زه څه پروا کوم

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

دومره وزګاره نهٔ یم چي خپل ځان وو وینم
چي په ائین کښي ګورم آئین پرېشان وو وینم
جانانه ډېر درپسي ګرځمه ارمانونه
زهٔ دي یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چي درته ګورم

زهٔ چي ګوردر له ځمه مئین سوزېږی په ما
لکه د اور په شان سېزګار ځلېږی زما
خاطره مهٔ راځه بلېږی سرهٔ اودونه
زهٔ دي یاره نهٔ یم دومره وزګاره نهٔ یم
چي درته ګورم

تورې سترګې دې اشارې کا ... سرې شرنډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه ... چي زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

کله بانهٔ راته انغی کا ... پیښې د ګلو انګی کا
چي مسکی شی بیا سترګې مرې کا ... سرې شرنډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه ... چي زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

بیا چي ارمان د سره نهٔ وی ... کړه چي ځهٔ دې نن په زړهٔ وی
چي مې خلق ټول تماشې کا ... سرې شرنډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه ... چي زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

د انتظار په توره شپه کښي ... دا دې خاطره په تیارو کښي
خپلې او ښکې دې ځان ته پرېږې کا ... سرې شرنډې لمبې کا
زړه کیه راته وایه ... چي زهٔ کوم طرف ته لاړ شم

له متن لرنه ار دیوان کښي (ن) نشته
له متن لرنه کښي دا بند نشته

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



چې تر سبا به مې ژړا په تا پسې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

دلبره بند راته معلوم یې
هسې خو نه چې ته ماشوم یې
کله زهیر په ما مظلوم یې
چې نه پوهیږې له هغو سره وعدې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې ستا د مخ په تماشا وم
دغه وصال وه که جدا وم
نه یم خبر په څه سودا وم
چې تماشا مې ستا د مخ د تماشې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې په غمونو کښې دې ګیر کړم
اوس دې دلبره ځله هېر کړم
که دې یو ځل په دیدن سیر کړم



کنې له غمه به دې سر شم یا مړې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

چې د اغیارو زما یار شي
بس اوس مې قتل ته تیار شي
اشنا زما ځني وېزار شي
پرما مې نشته خو په خپله مې ذبې کړه
را یادې هغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

ځکه قبول دغه بېلتون کړم
څه بې له تا په دې ژوندون کړم
دلبره مینې دې مجنون کړم
جانانه اوس را پورې ټوقې مسخرې کړه
را یادې دغه شپې کړه
زما نا ترسه یاره

د ستا چې نه یمه د چا یم
راغلے دایم په خندا یم
مړور نه یمه پخلا یم
خاطره بیا که مړور شوم نو ګیلې کړه
را یادې هغه شپې کړه    زما نا ترسه یاره

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com


تہ به د ستا د حسن وارشی یاره زما
اخر خزان به دی بهار شی یاره زما

چې نهٔ را درومې اشنا نو وعدې ځاه کوې
هغه پرون دې ښهٔ وې نن چې بیا بهانه کوې
زما یقین ستا په اقرار شی یاره زما
اخر خزان به دې بهار شی یاره زما

ستړګې مې بې له تا نه د چا په لور نهٔ ګوری
د ستا له مخه ځنې مخ نه نور نهٔ ګوری
مړې به کله په دیدار شی یاره زما
اخر خزان به دې بهار شی یاره زما

زهٔ د بل چا د مینې اشنا ځهٔ طمعه نهٔ کړم
زهٔ به له نورو سره ستا مینه سمه نهٔ کړم
په ما خاطر دې کهٔ اعتبار شی یاره زما
اخر خزان به دې بهار شی یاره زما

له منزلونه او دیوانه کښې (چې) دے

چې نهٔ را درومې یاره ته، منع دې کړه یاد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

ان د یو ساعت مهمان د لې
واوره زما یو خو ګیلې
تر به شی ستا شباب، سر دې نهٔ کړو مراد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

چا ته بنکارهٔ کړم خپل ځګر
نهٔ کړې پروا پرې دلبر
نورې دی څوک چې یې واوری دغه فریاد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

کهٔ بنهٔ دې شی په سر زما
وی دې پیشکش دلبر زما
وائی خاطر شه نار له تا، نشته باقی جانبداد زما
نهٔ شومه پوه په خپل ژوندون، کړو عمر دې برباد زما

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

زهٔ جهان څهٔ کړم چې نمر مخیه یارهٔ تا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
ستا د کاکل په تورو شپو پورې لا شپې څهٔ دی
ستا د سرو شونډو انګو پورې غنچې څهٔ دی
دی تماشه مې د ژړا چې دې خندا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
د ستا په مینه کښې د خلقو خندنے خوښ یم
خود خپل عقل نه وزګار شم لېونے خوښ یم
راسره غم د لېونو شی چې صحرا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم
ګله چې ما خاطر ته یاد شې ټول جهان ګل شی
لهٔ ډېره هجره سره یو ګل مې د چشمان ګل شی
خدای خبر بیا چې زهٔ به ستورے د سبا ووینم
ښکله دنیا ووینم    ښکله دنیا ووینم



د قام ځلمو ستړګې مو پورته کړئ خپل ځان وګورئ
چرته کښې ورسېدهٔ ، وګورئ جهان وګورئ

د قام ځلمو زمونږ همدغه د ختو ورځې دی
دا مو د ژوند د بنهٔ کېدو د خوشحالو ورځې دی

د نمر په څېر چې خپل طاقت په ټول جهان خور کړئ
په خپل همت همچرته نوم د پاکستان خور کړئ

شا ته نور مهٔ ګورئ په وړاندې خپل قدم کېږدئ
په ورانو لارو باندې مهٔ ځئ قدم سم کېږدئ

لهٔ مخې لرې کړئ ازغی ځان ته ګلونه کېږدئ
شی چې اغیار در ته حیران هلته کښې پلونه کېږدئ

مونږ له چې مخې له راغلی وارخطا تللی دی
ځلمو زمونږه ځنې ډېر ځلمی په شا تللی دی

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com



تا سو هم واورئ چې پېغور ته نظر تېر نهٔ شي
د پاکستان خلقو مېدان کښې مو سر تېر نهٔ شي

د مشرانو تل خلقو نصيحتونه نهٔ وي
دا مو دے وخت د ترقۍ تل دا وختونه نهٔ وي

ملا مو د قام خدمت ته وتړئ چې سيال شئ په کښې
دا تنګي لنډې کړئ او ارې چې خوشحال شئ په کښې

چې نن يې ورنهٔ کړئ خلقو بيا به يې کله وکړئ
د خپل وطن خدمت ته پورته شئ په خپله يې وکړئ

يو بل ته مهٔ ګورئ، لهٔ ځان هر يو ماليار جوړ کړئ
د پاکستان د هر يو ګوټ ځنې ګلزار جوړ کړئ



د دښمن په خونه تندر د اسمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
شان و شوکت دے زمونږ
جاه و حشمت دے زمونږ
د قربانۍ په وېرو وينو د امکان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
دا دېرکې مهٔ کوه
هسې دپکې مهٔ کوه
زړهٔ د فولادو نه د هر يو مسلمان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
غم د بلا نهٔ کوو
د چا پروا نهٔ کوو
مقابلې ته د دښمن زمونږ يو ځان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو
مونږ د خپل کور کړو فکر
هم د خپل ودود کړو فکر
فکر مو دا دے چې کشمير کښې هندوستان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

Scanned and pdf copy by Fazal Amin

(c) ketabton.com: The Digital Library
http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

ښاغلي په شان وو اول
جهان پر پښان وو اول
اول وو ښاغلے اوس دریاب ترې بې پایان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

هر امتحان ته ولاړ !
دغر په شانته ولاړ
وائي خاطر چې کلک په شانې د سندان جوړ شو
چې پاکستان جوړ شو

*

ستا د هلال ستورے مدام اختر دے زمونږ
د ستا مثال ستورے بنکاری نظر دے زمونږ
د ستا د اقبال ستورے سر او بصر دے زمونږ

تل ځلیږې په تا چې یې روښان وطنه
د پاکستان وطنه

Scanned and pdf copy
by
Fazal Amin

http://www.libraryofpeshawar.blogspot.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**